**دپرمختیا او ودې د حق په ګډون د ټولو بشري حقونو، مدني، سیاسي، اقتصادي،ټولنیزو او فرهنګي حقونو پراختیا او ملاتړ**

**د خپل سرو او ناقانونه اعدامونو په اړوند د ځانګړی رپوټ ورکونکی**
**فلیپ آلستون رپوټ**

**افغانستان ته ماموریت**

دا د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا لپاره د ځانګړی رپوټ ورکونکی د رپوټ نا رسمی ژباړه ده.
د ژباړلو چاری د نا قانونه اعدامونو د پروژی له خوا په لاره اچول شوی وی.
www.extrajudicialexecutions.org

## لنډيز

افغانستان اوس په داسې يوې جګړه کې ښکيل دی، چې هره ورځ په کې زيات شمير ملکي وګړي وژل کيږي، چې دا دمنلو وړ نه دی. په ۲۰۰۸ کال کې شاوخوا ۲۱۱۸ ملکي وګړي، چې د وسلوالو ښتو په پايله کې وژل شوي دی اټکل شوي، چې نږدی د ۲۰۰۷ کال په پرتله ۴۰سلنه زياتوالی ښيې. دا ټول هغه مرګونه نه وو، چې مخنيوی نه شوای کيدای. ملکي وګړي په ورځنې توګه له نا امنيو سره مخامخ دی، او د دوی ډيری ورځنی دندی دوی د مرګ له ګواښ سره مخامخ کوی. دوي د طالبانو له خوا ترور کيږي، او د افغان او نړيوالو ځواکونو له خوا امنيتی پوستو او کاروانونو سره نږدی په مرمی ويشتل کيږي. دوي د طالبانو په بې پروا ځانمرګو بريدونو کې وژل کيږي، او يا په ناسمو پلان شوي او نا تناسبه هوايي بمباريو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. او يا دوي د ناسمو معلوماتو پر بنسټ د نړيوالو استخباراتی څانګو چې دولت او پوځی قوماندان د هغو مسووليت پر غاړه نه اخلی د کورونو د تالاشی پر مهال وژل کيږي.

زما د حقيقت موندنی ماموريت په لړ کې، په ۲۰۰۸ کال د می په مياشت کې ځانګړی پام دې ته وو، چې و پوهيږم دا وژنې څرنګه او ولی رامنځ ته کيږی، ترڅو داسې د حل لاری ورته پيدا کړو، چې د ملکي تلفاتو کچه کښته راشی. په هره توګه او د هر چا له خوا چې رامنځ ته شوی وي. د دې لپاره چې دا تر سره شی منازعی ته می له ملکی محوره کتنی څخه کار واخيست، او په دی لټه کی شوم چې د غاړو هغه تکتيکونه چې ملکی تلفاتو لامل کيږي، پيدا کړم او د يوی غاړی کړنې څرنګه د ملکی تلفاتو احتمال د بلی ډلی له خوا ډيروي، او څرنګه ملکی وګړی د پوځی مقابلی څخه د ساتنی په موخه په جدل کې را ښکيل کيږي. په جګړه بوخت دواړو غاړو د ملکي تلفاتو مسووليت يو پر بل اچوي، خو حقيقت دا دی چې طالبان، افغان ځواکونه او نړيوال ځواکونه د ناقانونه وژنو په هکله مسُوليت لري. او هره يوه غاړه په جګړه کې د ملکي تلفاتو د کچې په را کښته کولو کې مسووليت لري.

هغه وژنو ته په پام کې چې طالبان يې عاملين دی، د هغوې مشرتابه خپلو جګړه مارو ته روښانه اوامر ورکړی، چې بشري حقونو او نړيوالو بشر پالو قوانينو ته درناوي وکړي، او له انسانی ډال څخه کار اخيستنه ودرول شي، د ملکي وګړو وژنې، او همدارنګه د ځانمرګو بريدونو چې د ډيرو زياتو نا متناسبوملکي وګړو د وژنو لامل ګرځی، د پای ټکې کيږدی. د بشري حقونو پلويان د خپلو دغو موخو د پرمختيا لپاره بايد هڅې وکړي، تر څو د دوي د مشرانو سره په خبرو اترو شی. دا په کورنيو منازعو او وسلوالو سرغړونو کې عامه خبره ده، او افغانستان نه بايد استثنا وي.

د ملکي کسانو د وژنې په اړه چې افغان او نړيوالو ځواکونه يې لامل ګرځی، نو دغه ځواکونو ته اړينه ده چې خپلو د بمباريو او تلاشيو تګ لاره بيا وڅيړي. د موخو د ښې ارزونی لپاره بايد نوری ښې لاری چاری ولټول شی، او ځواکونه بايد پر دې مطمين شي، چې د دوی د يرغل ډول د ملکی وګړو د تلفات لامل نه ګرځی او د پوځی اړتيا د ګټو څخه زياته نه وي. سربيره پردې نړيوال ځواکونه ته اړينه ده، چې مسووليت منلو او روڼتيا ته په خپلو عملياتو او څيړنو کې پراختيا ورکړی. د منازعی اړوند ملکي تلفاتو د شميری اټکلونه بايد عامو ته څرګند شي. او نړيوال ځواکونه بايد د دې شونتيا رامنځ ته کړی، چې افغانان په آسانی سره د وژنو د څيړنو او د قانونی تعقيبونوڅخه معلومات په لاس راوړی. د نا مسُولو بهرنی استخباراتو له خوا پوځې عملياتو ته اجازه ورنه کړل شي.

د دولت او نړيوالو ځواکونو، د خسارې د جبران تګلاری دا شونتيا رامنځ ته کړی، چې زياتره افغانان خپل د زيان غرامت تر لاسه کړي. خو دا تګلارې کيدای شي، چې ښه او پياوړی شی، په ځانګړي توګه د ښې همغږی او د هغې د ورځنې تطبيق کولو په ذريعه. وړاندی، قوماندانان بايد قربانيان او کورنی ولټوی او د دغه تګلاری د جوړولو پر مهال د ښځو ځانګړې ستونزی د هغوې د لاس رسی په اړوند په پام کې ونيول شي.

سربيره پر هغو وژنو چې د منازعی په پايله کې رامنځ ته کيږی، دا رپوټ د هغو ناقانونه وژنو چې د قانون تنفيذ، د منځنيو شخړو، او يا هم د عدلې قضايی سيستم د ناکاری له کبله را منځ ته کيږې، په باب هم دې. لومړی، افغانان

د پولیسو او نورو وسلوالو ډلو چې د دولتي چارواکو د لاس لاندې دي په نا قانونه توګه وژل کیږي. چې داسې پېښې په ډیره لږ کچه سره د دولت له خوا په جدی توګه څېړل کیږي. څرنګه چې د پولیسو د سمون هڅې روانې دي، نو د ملي پولیسو جوړولو ته پام ډېر ضروری دي، او همدا شان هغه اړیکې چې د پولیسو، ملیشو، او ځانګړو قومونو او سیاستوالو تر منځ شته باید پرې شي، دویم، یو شمیر د پام وړافغانان په ځانګړی توګه ښځې، چې په اصطلاح د "ناموسی وژنو" قربانیان ګرځي، چې دولت د دغو وژنو په څېړنه، څارنه او محاکمه کولو کې پاتې راغلی دي. درېیم، په ټولیزه توګه عدلي او قضایي سیستم اساساً نیمګړتیاوی لري، فساد او نه وړتیا په پراخه توګه شتون لري. زورواکي او شتمن مجرمین خوشی کیږي. بیرني اړه د دې لپاره شته، چې د هغو دولتي چارواکو په وړاندې چې د فساد په جدی پېښو کې ښکيل دي باید اقدام وشی، تر څو د فساد د کچې د راټیټولو پر وړاندې، چې سیستم یې ککړ کړی، لومړنی ګام پورته شي. څلورم، په عدلي او قضایي سیستم کې نیمګړتیاوی د دې لامل ګرزي، چې د بیګناهو خلکو په اعدام محکومیدلو، شونتیا زیاته شي. د عدالت ټینګولو او نړیوالو قوانینو ته په پام سره، د اعدام د سزاګانو په ترسره کولو کې باید قانونی ځنډ راوستل شي.

ډېرو زیاتو افغانانو، د خپل ژوند په ډیر وخت کې نښتی، جنګونه او بی رحمي تجربه کړی دي. چې زیاتره یې خپل خپلوان پرله پسی په جګړو کې له لاسه ورکړی دي. په داسی حال کې چې افغانان د بهتره ژوند وړتیا او لیاقت لری. د دغه راپور پیغام دا دی چې، زیاتره هغه وژنې چې اوس مهال په افغانستان کی پیښیږی، د هغوي څخه د مخنیوي امکان شته. افغانستان دولت، نړیوال ځواکونه، او طالبان داسی بیرنی اقدامات خپل کړي، تر څو د نا قانونه او ناضروری وژنو کچه را ټیټه کړي.

**د ځانګړی رپوټ ورکونکي فلیپ آلستون رپوټ د ناقانونه او خپل سری اعدامونو په باب د هغی ماموریت افغانستان ته ( ۵-۴ می د ۲۰۰۸ کال)**

I. شالید
II. په منازعه کي وژني
أ. د ملکی وګړو له لیدلوري کتنه
ب. پوځي عملیات او د ملکي وګړو وژني
1. هوایي بمباری او بشری ډال
2. تالاشی
3. د پوځی اطلاعاتو راټولول او ناسم معلومات
4. ځانمرګي بریدونه
5. د ځواکونو ساتنه
ت. د ملکي خلکو د ملاتړ په اړه متعارض نظرونه
1. د نا پلوي توب لپاره هلی ځلی
2. د طالبانو له خوا ترور او "شپه پاڼی"
3. د نړیوالو ځواکونو له خوا ګواښونه او وېروني
ث. د نړیوالو ځواکونو په پوځی عملیاتو کی روڼتیا او مسوولیت اخیستنه
ج. د زیانمنو لپاره دزیان جبران
ح. پر طالبانو اغیزه اچول
III. د پولیسو سمون او ملیشه
IV. عدلي او قضایي سیستم
أ . پیژندګلوي
ب. فساد او معافیت
ت. ښځي او عدلي قضایي سیستم
ث. ناموسی وژني
ج. د اعدام سزا
V. انتقالی عدالت او د تیر مهال د جرمونو لاسوندونو ساتنه

الف نښلونه: د ماموریت تګلاره

ب نښلونه : لمن پاڼي

## I. شالید

**1.** افغانستان د خپل قلمرو په ټولو سیمو کې د وسلوالي شخړې سره مخ دی. په حقوقی اصطلاح، دا یوه نړیواله وسلواله جګړه نه، بلکې د دولت چې د نړیوالو پوځی ځواکونو ملاتړ ورسره دی، او له بیلا بیلو وسلوالو ډلوو تر منځ جګړه ده.[1] د دولت ځواکونه شامل دي له افغان ملی اردو، چې د نړیوالو ځواکونو سره نږدی کار کوي، ملي پولیس، یو ماته شوي او د مخالفینو له خوا ګوزارونو زعملي اداره ده، او د ملي امنیت ریاست چې یوافغانی استخباراتی اداره ده، چې د خپلو عملیاتو د ترسره کولو برسیره نورو ملي او نړیوالو غاړو ته هم معلومات ورکوي. نړیوال پوځی ځواکونه پر دوه برخو ویشل شوي دي، یو د نړیوالو مرستندویه امنیتي ځواکونو په نامه (آیساف)، چې د یاغی ګری پر ضد جګړه پر مخ بیایی او د ناټو تر قوماندې لاندې دي (د اګست د میاشتی د ۲۰۰۳ کال راهیسې)، او بل یی د آزادی ټینګولو عملیات(او ای اف) په نوم یادیږی، چې د ترهګری پر ضد د مقابلی دنده لري، او د امریکا د متحده ایالاتو له خوا رهبری کیږي. هغه وسله والی ډلی چې د ملی او نړیوالو ځواکونو په وړاندی دریږی او صف تړی، د مرستی او یووالی بیلا بیلی اندازی ښي او دوی په پراخ ډول د "طالبانو" په نامه یادیږی که څه هم دوې کله کله د "دولت پر ضد عناصرو" په توګه پیژندل کیږی.[2] په داسې حال کې هغه ناقانونه وژنی چې د روانی وسله والی منازعی په ترڅ کی تر سره کیږی، د دغه رپوټ اصلی ټکی دی، هغه جلا لاملونه چې د دغو ناقانونه وژنو سبب ګرزی او په پولیسو او عدلی قضایي سیستم کې ریښي لری، هم په دغه رپوټ کی راغلی دي.

## II. په منازعه کی وژنې

### أ. د ملکی وګړو له لیدلوري کتنه

2. په افغانستان کی د یو افغان ملکي وګړي په توګه پاتې کېدل اواوسیدل اسان کار نه دی. ورځنی کارونه ژوندون ګواښي، ملکي وګړي دمنازعی د ټولو غاړو له خوا وژل کیږي. ماته دا مهمه ده چې ناقانونه وژنې کمې شي، د هرچا له لوری او په هره توګه چې رامنځ ته کیږي. دا کار داسی ارزونو ته اړتیا لري، چې د منازعی ټولی غاړی په خپلو کړنو کی داسې سمون راولي چې، د هغه بی امنیتی کچه چې د جګړی له کبله خلکو ته متوجه ده، را ټیټه کړي.

3. هغه تیری چې افغان ملکي وګړي ورسره مخ دي د نورو څخه چې په افغانستان کی یې تجربه کوی توپیر لري، که څه هم طالبان ځینی ځانګړ تیاوی او توپیرونه وړاندی کوي، خو بهرنیان پرته له دې نه دی، چې د هغوی کړنو ته پام وشي، په پراخه توګه د طالبانو له خوا په موخه شوی دي. بهرنیان یا په ټولیزه توګه تر تحفظ لاندی وي او یا هم د دولت او نړیوالو ځواکونو له خوا یې ملګرتیا نه کیږی. نو له دې کبله، بهرنیان د یوې غاړې او بی تمیزه تیریو سره مخ دي، او دوې پر خپلوامنیتی تدابیرو لکه د فزیکی ساتنی ( د بیلګې په توګه د لوړو دیوالونو ودانې) او فیزیکی ډډه کول (د بیلګې په توګه، د سړک دغاړو د بمونو ساحی ته نه ورتلل) تکیه کوي. که چیرې دا پرتله کړو، د منازعې په یوه سیمه کې یو افغان ملکی وګړی د ټولو غاړو له خوا د تیریو او جبرونو سره مخ دي[3]. تر ټولو د لمس وړ اړخ د منازعی، د غاړو تر منځ پوځی جګړه ده: یرغلونه پر هغو کورونو چې د یاغیانو د شته والی ګمان پری کیږی، د هوایي حملو تر سره کول پر هغو ځایونو چې د طالبانو د راټولیدو ګمان پری کیږی، پر پوځی کاروانونو ځانمرګی بریدونه، کمینونه او پوځی مقابلې، او داسی نور. د منازعی پر دی اړخ کې، ملکی وګړی ندرتاً په عمدی توګه په موخه کیږی، خو کیدای شی دوی د "جانبی زیان" او یا هم د جګړه مارو د ګمان پر اساس ووژل شي.

4. په لاندی شننه کې دغو ټکو ته پام شوي دی: (۱) د دواړو خواوو هغه تکتیکونه چې په نیغه توګه د ملکي تلفاتو لامل ګرځی، (۲) د یوې غاړی هغه سلوک او یا د جګړی روشونه چې د بلی غاړی پر سلوک باندی اغیزه واچوي، او د ملکی تلفاتو د زیاتیدو لامل ګرځی، (۳) د ملکي وګړو د ملاتړ د لاس ته راوړلو لپاره سیالی.

ب.        پوځی عملیات

1.        هوایي بمبارۍ او انساني ډال

1.  پر ۲۰۰۸ م کال کې، ۶۴ سلنه ملکي تلفات (۵۵۲ کسان) د نړیوالو ځواکونو د هوایي بمباریو او هغه نږدې هوایي ملاتړ چې د خپلو ځواکونو څخه یې کوې چې د طالبانو سره په جګړه کی ښکیل وي، له کبله رامنځ ته کیږي. دغو مرګ ژوبلو د نړیوالو ځواکونو پر وړاندی پراخ قهر او غضب ته لا زور ورکړ. ملکی تلفات کیدای شي د هغو بریدونو په پایله کی، چې ګمان کیږی جګړه ماران به وي، او یا هم د جانبی زیانونو په نتیجه کې رامنځ ته شي. نړیوال بشر پاله قوانین پر مشروع پوځی موخو بریدو ته اجازه ورکوی، حتی که چیری په پایله کې ملکی تلفات هم رامنځ شي، خو دا باید د تناسب له اصولو سره برابر وي.[4]

2.  دا قوانین همدا شان په داسی حالاتو کی لکه د کنړ په ولایت کې، چیری چې طالبانو پر نړیوالو ځواکونو د خلکو له میشت ځایونو څخه راکټ ویشتلي وو، او دوی پر همغه ځای ځوابیه حمله کړی وه، هم تطبیق کیدای شی. ما د دې په باره کې چې نړیوالو ځواکونو به په عمدی توګه سره ملکی وګړی د دی حملو په اړوند ګرم بللی وي، کوم شکایت وانه ورید. خو برداشت دا وو، چې د دوې په ځوابیه حملو کې د ملکی خلکو ساتنی ته لږ پاملرنه شوي وه. یوه رسمی چارواکې داسې وویل، که ځایي خلک د وسلوالو مخالفانو څخه ملاتړ ونه کړی نو دوی په داسی موقف کی نه دي، کله چې وسله وال وغواړی د دوی د ځای نه یرغل وکړی او دوی مداخله وکړای شي. همدا شان هغه زیاته کړه چې د نړیوالو ځواکونو لپاره متقابل ځوابیه عمل دومره ګټه نلری، ځکه چې وسله وال مخالفین ډیر ژر وروسته له خپلو حملو څخه د سرحد نه اوړی او پاکستان ته ځي. نړیوال پوځی ځواکونه د موخو د ځیرلو او د جګړی د روش د ټاکلو لپاره طرز العملونه لري. دا طرز العملونه ماته راونه ښوودل شول، او زه په داسی حالت کې نه یم چې د هغی انطباق پذیری د نړیوال بشرپاله قوانینو سره و ارزوم. خو د هغو لیکل شویو طرزالعملونو نه پرته دا معلومه نده چې آیا په عمل کې بشپړ احتیاط د حملو په تر سره کولو کې کیږی تر څو دا یقیني کړی، چې حملې بی تمیزه نه وی او ملکی تلفات به د هغه پوځی موخی چې توقع یې کیږی په پرتله سره ډیر نه وي.

3.  نړیوال بشرپاله قوانین د منازعی له غاړو څخه غوښتنه کوي، چې ملکی وګړو ته د زیانونو د کمولو په موخه د مخالفی غاړی له خوا د حملې پر وخت لازمی کړنی تر سره کړي.[5] دا په داسی حال ده چې په ځینو پیښو کې طالب جګړه مارانو خلکو ته اخطار ورکړی تر څو مخ کې تر یرغل خپلی سیمی پریږدي، ما د څو کتونکو څخه واوریدل چې طالبان د خپلو ځواکونو د ساتلو په موخه په عمدی توګه ملکی وګړو څخه د "انسانی ډال" په توګه کار اخلی. په ځینو بیلګو کې، طالبانو د خلکو د میشت ځایونو څخه د نړیوالو ځواکونو پر هډو، قطارونو او نورو پوځی موخو د راکټ حملې کړی دی، نو په دی توګه د نړیوالو ځواکونو لپاره د پوځی ځواب ورکول د ځوابیه برید له طریقه یا هوایي حملې څخه پرته له دی چې ملکی وګړو او ملکی شیانو ته زیان ورسیږی مشکل کیږي. انسانی ډال هم هغه وخت چې طالبان د نړیوالو ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې ښکیل وي کارول کیږی، او د کورونو او کلاوو څخه پر سرتیرو بریدونه کیږی، په داسی حالت کې، د ملکی وګړو شتون په دغه کلاوو کې – عموماً یوه کورنی یا څو کورنی – طالبان د هغوی نه د نړیوالو ځواکونو یا د ملی اردو د مځکنی ځواکونو د ځوابیه برید څخه ځان د ساتلو لپاره کار اخلي.[6]

4.  طالبان همدارنګه ځینی وخت د ملکی خلکو په کورونو کې د نړیوالو ځواکونو څخه پټیږی. د بیلګی په توګه، کتونکو په کندهار کې وویل، چې په ځانګړو سیمو کې دا یو معمول کار وو، چې طالبانو به د خلکو څخه غوښتل چې دوی په کورونو او کلاګانو کې پټ وساتي. یوې ښځی وویل چې څرنګه د دوی خپلوانو د دې کار څخه ډډه کوله، او د طالبانو څخه یې وغوښتل چې د دوې کورته ورنشي، او دوی دا ویل چې ښایي د جګړی په متقابلو ډزو کې دوی هم مړه شی. خو طالبان په زور سره د دوی کور ته ورغلل. د نیغی پوځی جګړی په نشتوالی کې داسی کړنی په کمه اندازه سره د ملکی تلفاتو له پاره یو لاربنود کیدای شي، خو په نورو حالاتو کې د خطر اچولو سبب کیدای شي، او د نړیوال بشر پاله قوانین بیلا بیل الزامات تر پښو لاندی کیدای شی.

5. طالبان باید انسانی ډال څخه کار اخیستنه بنده کړی، او همداشان د خپلو ځواکونو د ځای پر ځای کولو څخه د ملکی وګړو په میشت ځایونو کې ډډه وکړي. پاتی دی نه وي، چې د طالبانو له خوا د انسانی ډال کارونه د نړیوالو ځواکونو پر هغو الزاماتو چې دا اطمینانی کوی، چې هوایي بمباری د ملکی تلفاتوسبب نه ګرزی د هغه پوځی هدف په پرتله چې په نښه شویو جګړه مارانو څخه زیاتوالي ونکړي.

## 2. تالاشۍ

6. د شپی له خوا پر کورونو حملی د نړیوالو ځواکونو له خوا په پرله پسی توګه د هغو کسانو د نیولو په موخه چې ګمان کیږی د طالبانو سره اړیکی ولری تر سره کیږی. نړیوال پوځی ځواکونه عموماً د هغو دو طریقو نه په یوه طریقه دا بریدونه اجرا کوی.[7] هغه طریقه چې ډیر کارول کیږی، هغه کورونو ته ننوتل پرته له مخکینی اطلاع څخه دي، دوې د منفجره موادو په ذریعه د کورونو دروازی الوزوی. دویمه طریقه دا ده چې لمړی دوی د هلیکوپټر طیاری په مرسته پر بامونو را ښکته کیږي او وروسته د زینو په مرسته کورونو ته کوزیږي. د شپی له خوا حملی همیشه د ملکی وګړو لپاره خطرناکی دي. ډیر شمیر ملکي وګړي د امنیت او له مجرمینو څخه د خپلو ځانونو د ساتنی په موخه، په خپل کورونو کې وسلې ساتی. او د دی لپاره چې په خپل کور کی د خپل ځان امنیت ساتنه اطمینانی شي. د دی پر بنسټ د خلکو لپاره عادی ده چې د مجرمینو او داخلی بریدکوونکو له وېرې ان له وسلو سره بیدېږي، او ډیر احتمال د د دې هم شته چې دوی پر هر چا باندی ډزی وکړی په شمول د هغو سرتیرو چې د دوی دروازی د شپی له خوا ماتوي، چې دهغه پایلې ډیرې ویجاړوونکی دي.[8]

7. د شپې تالاشۍ باید د نړیوالو بشري حقونو او نړیوال بشر پالو قوانینو له مخې او د هغوي دقیق ساتندویه لارښودونو په پام کی نیولو سره تر سره شي.[9] د نړیوالو ځواکونو یو قوماندان چی ما ورسره خبری وکړی د شپې د ناڅاپه تالاشۍ په دفاع داسی وویل، چې دا یوه ډېره بې خطره لاره ده، ځکه چې یو ویده سړی مخ کې له دې چې کوم ناوړه عمل وکړی دستګیر شی. ولی بیا د هغه افغانانو سره چې ما خبری وکړی وویل، چې دا راز نا ضروری بریدونه د هغه په نښه شوي کس خپلوان له خطر سره مخامخ کوي، هغه د یوې بیلګې په باب هم وویل، چې نوری لاری چې زیان یې لږ وی شته چې وکړاې شی مطلوب کس په آسانی سره ونیسی.[10]

8. په ځانګړی توګه هغه بریدونه، چې نه دولتونه او نه هم پوځی قوماندانان د هغوي د مسوولیت منلو ته چمتو وی ډیرې ستونزنی لري. د ۲۰۰۸ کال په جنوری کی، د کندهار په ښار کی دوه وړونه د نړیوالو ځواکونو له خوا د شپې په تالاشی کی ووژل شول، دولتی چارواکو چې د پیښی په اړه یې پوره معلومات درلودل وویل چې قربانی شویو کسانو د طالبانو سره اړیکی نه درلودي. له دی سره سره چې د نړیوالو خلکو ګډون په دی پېښه کی ښکاره دی خو بیا هم هیڅ نړیوال پوځی قوماندان د دی مسوولیت پر غاړه وانخیست چې د دوي سرتیری په دی پېښه کی ښکیل وو.

9. همدا راز ما هغه د شپې حملې چې په کندهار او ننګرهار ولایتونو کې د نړیوالو او افغان ځواکونو له خوا شوې وې، وارزولې. خو بیا هم تر اوسه د نړیوالو ځواکونو پېژندنه نه ده شوې. په ننګرهار کی په اټکلی توګه هغه افغانی ځواکونه چې له نړیوالو ځواکونو سره کار کوي د شاهین قول اردو په نامه یادیږی، او په کندهار کی هغه افغانان چې د نړیوالو ځواکونو سره کارکوي د ګیکو د پوځی قرارګاه څخه دباندی دي. د دفاع وزیر، د ملی امنیت رییس او د ملی اردو قوماندانانو دا منلې ده چې دغه ځواکونه د دوي تر قومانده لاندې نه راځي او نه دي. دا په رښتیا هم معلومه ده، چې ځینی او یا هم ټول دغه راز ځواکونه د هغو کسانو له خوا چې د نړیوال استخباراتی کړیو سره تړاو لری رهبری کیږی. چې په پایله کی د قوانینو د پلیتوب او ټینګښت په نامه په درونو سلاګانو سمبال نړیوال ځواکونه او د هغوی افغان ملګری شاوخوا ګرځی او اکثراً داسی بریدونه ترسره کوي، چې زیاتره یی په وژنو سره پای ته رسیږي او د هیچا له خوا تر پوښتنی او مسوولیت لاندې نه راځی.

## 3. د پوځی اطلاعاتو راټولول او ناسم معلومات

10. کله چې هوایي بمبارۍ او د شپې بریدونه پر مشروع پوځی موخو باندی د زیات شمېر ملکي تلفاتولامل ګرځي، زیات شمیر بریدونه پر ملکي وګړو چې په تېروتنې سره د طالبانو شک پرې شوي وي، تر برید او هدف لاندی راوستلای شی.[11] معلومیږی چې دا پیښې را منځ ته کیداې شي، نړیوال پوځی ځواکونو د هغه کړنو په هکله چې طالبانو ته اړه نېسي ببړنی قضاوت کوي، او د دوي ډیره خوشباوری په تحلیل او قضاوت د هغه معلوماتو چې د ملکي وګړو له خوا ورته ورکول کېږي.

11. د یو شمیر ملکي وګړو سره په شمول د سپین ږیرو، قومی مشرانو، د ځانګړو پېښو کتونکو او د قربانیانو له کورنیو سره، چې د نا آرامه او جګړه ځپلیو سیمو څخه وو، خبرې مو وکړی. دوی ادعا کوله چې نړیوال ځواکونه ځایي کړنې او روشونه په پام کی نه نیسی، چې ځینی مهال سرسری مشکوکې کړنې د ملکي وګړو تر برید لاندې راتللو، لامل ګرځي.[12]

12. د هغو سیمو اوسېدونکي چې د نړیوالو پوځی ځواکونو له خوا زیانمنیږی زیاتره مهال دا شکایت کوي، هغه بریدونه چې د دوي په سیمو تر سره کیږي، د ناسمو معلوماتو چې، د خپل منځی دښمنیو پر بنسټ معلومات ورکوي تر سره کیږي.[13] زیات شمیر دولتی چارواکو هم دا شان وویل، چې زیاتره مهال ملکي تلفات د نړیوالو ځواکونو له خوا د ناسمو معلوماتو پر بنسټ رامنځ ته کیږی. یو والي وویل، چې د هغه په ولایت کی داسی خلک شته چې د منځګړیتوب په توګه د دښمنی لرونکي وګړو څخه پیسی اخلی او بیا نړیوالو ځواکونو ته ناسم معلومات ورکوي، چې دې خلکو په دې توګه سره د پیسو د ګټلو کاروبار ځانونو ته جوړ کړی ده. او یو شمیر امنیتی چارواکو دغه موضوع په عمومی توګه مطرح کړله.[14] د منازعی ځپلو سیمو ملکي خلک دا تأییدوي چې، د برید کولو تمایل پر هغه خلکو چې اشتباهاً پری ګمان کیږي دوي په طالبانو پوری اړه لری زیات دی. او نړیوال ځواکونه دا کار د یوی ښی وړاندوینی په توګه بولی، په داسی حال کی چې هغه څوک، چې هدف ګرځیدلی وی دا پریکړه کوي، چې د نورو پوځی سرچینو څخه به حمایت وکړي، تر څو د بریدونو جبران یې کړی وي.[15]

13. دا د پوهیدو وړ ده، چې نړیوال پوځی ځواکونه ولی د ځانګړو موخو د ټاکلو په اړه بشپړ معلومات نه ورکوي. د خپلو استخباراتی سرچینو په اړه د معلوماتو څرګندول ډیر مهال د هغو سرچینو د اعدام سره د مخ کولو په معنی وي. خو بیا هم د هغو استخباراتی معلوماتو چې پرې باور کیږي، د هغوي رښتینوالی او اعتبار معلومول کار ډیر ستونزمن او ګران دي. خو دا په دی مانا نه ده، چې له دی ستونزی سترګې پټې شي.[16] دولتی چارواکو په ټولو پوړونو کی وار په وار ویلی دي، چې همغږي او همکاری د نړیوالو ځواکونو او ملی امنیت تر منځ د موخو د څېړنو په باب ډیره باوری او ډاډیزه لاره ده، چې د هغو ملکي تلفاتو مخ نیوې کوي، چې د ناسمو معلوماتو پر بنسټ منځ ته راځي.[17] د استخباراتی معلوماتو د کره کولو د ارزښت په باب د هرڅومره سرچینو سره چې ممکنه وي نړیوالو ځواکونو کوم تردید نه درلود، سره له دی چې د ملی امنیت معلومات یو ځانګړتیا لري، چې ډیر مفصل وي تر دې چې د اعتماد وړ او موثق وي.

14. اوسنې تګلارې، پر کومو چې پر طالبانو بریدونه کیږی، ددې یقینی کول چې د اعتماد وړ معلوماتو پر بنسټ به وی، د دې جوګه نه دي چې د نړیوالو بشر پاله قوانینو غوښتنو ته په کې احترام وشي.[18] اوسنې تګلاره خطر سره مخ ملکي وګړی تر برید لاندې راولی، شخصی او قومی رقیبان د فرصت طلبو کېدون والو په توګه وسله والی منازعی ډګر ته راکډوي.

## 4. ځانمرګي بریدونه

15. څلورمیاشتې وړاندې زما د سفر څخه افغانستان ته، په اټکلي توګه له ۳۸۱ څخه ۲۱۴ ملکي وګړی د طالبانو په ځانمرګی بریدونو کې وژل شوي وو.[19] هر څومره چې جګړه مخ ته لاړه هغومره د دواړو هم د ځانمرګی بریدونو شمیر زیات شو او هم د ملکي وګړو تلفات په داسې ځانمرګی بریدونو کې زیات شول: پر ۲۰۰۶ کال ( په ۱۲۳ بریدونو کی، ۲۳۷ وژل شوې)، پر ۲۰۰۷ کال ( په ۱۶۰ بریدونو کی، ۳۲۱ وژل شوې)، د ۲۰۰۸ کال په لومړیو څلورو میاشتو کی ( په ۳۴ بریدونو کی، ۲۱۴ وژل شوې).[20]

16. د طالبانو ځانمرګي بریدونه زیاتره په نا متناسب ډول او بې له توپیر کولو تر سره کیږي، چې د هغه په پایله کې زیات شمیر ملکي وګړي وژل کیږي، او یا ټپیان کیږي. دا ځکه چې دغه بریدونه د مخالفانو له خوا د یو ځانمرګی بریدکوونکي چې چاودېدونکي توکي له ځان سره تړی او یا د موټرو په واسطه چې له چاودیدونکو توکو څخه ډک دی په داسی حال کی چې ځانونه د ملکي وګړي په شکل جوړوي تر سره کیږي. افغان او نړیوالو ځواکونو ته دا ډیره سخته وي، چې د ځانمرګې او ملکیانو تر منځ تفکیک وکړای شی، چې په پایله کې د ملکیانو ناڅاپه مرګ ژوبله را منځ ته کیږي.

17. ځانمرګی بریدونه په خپله د جګړه یز تکتیک په توګه په وسلوالو منازعو کی، نه دې منع شوي.[21] خو دا ځانمرګی بریدونه هغه وخت نړیوال بشرپال قوانین تر پښو لاندې کوي، چې ملکي خلک په نښه کړي، او کیدای شی چې د نا متناسبو ملکي تلفاتو لامل شي، او یا هم د غولولو په طریقه سره اجرا شي.

18. د ځانمرګی بریدونو په اړه د ۲۰۰۷ کال له جنوری څخه بیا تر ۲۰۰۸ کال مارچ پوری معلومات دا ښیی، چې ۱۵ سلنه دغه بریدونه ملکي خلک، او دولتی چارواکې تر هدف او نښې لاندې راوستلی دی، نو پر دی وینا نړیوال بشر پال قوانین یې نقض کړی دي. سربیره پر هغه پر پوځی مشروع موخو باندی ډیر بریدونه په داسی حال کې تر سره شوی، چې د تناسب اصولو ته هیڅ پاملرنه نه دې شوی، او بریدونه له ګڼې ګوڼې ډکو ملکي سیمو کې تر سره شوی دي. که څه ځانمرګی بریدونه کولای شي د نړیوالو ځواکونو یو کاروان او یا د ملی اردو یو سرتیری تر برید لاندې راولې، خو د هغې پوځی ګټی د تر لاسه کولو په نسبت د یو شمیر زیاتو ملکي کسانو چې پر هغه وخت او په هغه سیمه کی موجود دی د وژنې او یا ټپی کیدو لامل ګرځی. د دغسې بریدونو جوړونکی د جانبی ملکي تلفاتو د کچې د پای ته راوستلو لپاره د ممکنه احتیاطی تدبیرونو په نیولو کی پاتې او ناکامه شوي دي. په وروستیو کلونو کې معلومیږی، چې دغه ځانمرګی بریدونه په ډیر بی باکانه او بې پروا توګه سره تر سره کیږي.

19. د طالبانو په ډیرو بریدونو کې فریب او غولول شته، چې دا د جګړې په ډګر کی یوه ممنوعه لاره ده.[22] طالبان په منظمه توګه د غولولو پر ضد تحریمونه په خپلو ځانمرګی بریدونو کی د ملکي خلکو او نورو ساتل شویو ملکي حالاتو څخه په ګټه اخیستلو سره نقض کوي. د طالبانو غولوونکی کړنی د ملکي وګړو ورځنی بوختیاوې او فعالیت د ډیر ګواښ سره مخ کوي. سره بیره پر هغو نیغ په نیغه وژنو، غولوونکی کړنې د ملکي وګړو په وړاندې د افغانی او نړیوالو ځواکونو پر سلوک ډیر زیات اغیزه اچوې. په همدی توګه، د یوه غاړی له خوا سرغړونې د بلې غاړی لپاره د حقوقی الزامونو سره د سمون کار د ستونزو سره مخ کوي. همدارنګه نړیوال ځواکونو ته په ډیرو حالاتو کې د یو ناپیژاند کس نږدی کیدلو په صورت کی، داسی د اعتماد وړ لاری چاری نه پاتی کیږي، چې د هغی پر بنسټ دوی وارزوې چې دا کس ملکی دی او که طالب دی او د برید هوډ لري. چې دا د نړیوالو ځواکونو احتیاط کچه لوړوی کله چی دوی د عادی افغانانو سره مخ کیږی، او نړیوالو ځواکونه د خپلو ساتندویه تدبیرونو نیولو ته اړباسی.

**5. د ځواکونو ساتنه**

20. غولوونکی بریدونه چې د نړیوالو ځواکونو او افغانی ځواکونو ژوند له خطر سره مخ کوي، نړیوال ځواکونه دی ته اړ ایستلی دي، چې د دوي له کاروانونو او د ګزمې د موټرانو څخه خلکو ته د لیری والی او فاصلی اخیستلو امر وکړی. هغو نقلیه وسایطو او ملکي وګړي، چې دغه اړین واټن مراعاتوي د خطر احتمال دوی ته نه متوجه کوی، مدافعوي اقدامات د ځواکونو له خوا نه نیول کیږي او هغه څوک چې دغه واټن نه مراعاتوي، له خطر سره مخامخ کیږي. ګوندی چې دغه د ځان ساتنې مدافعوي ګامونه د هغه شمیر خلکو په وړاندې ونیول شي، چې دوي ته ډیر نږدی کیږي. په هر حال که چېری ځواکونه د ځانی دفاع څخه هم کار اخلی، باید د نړیوالو بشر پالو قوانینو سره سمون ولري، که څه دغه غولوونکی بریدونه د تیروتنو اټکل ډیروي، خو د وژونکې ځواک څخه کار اخیستنه د یاد شویو اصولو د را ښکته کولو لپاره توجیه کیدای نشي.

21. نړیوال پوځی او افغان ځواکونه اکثراً د ځواکونو د ساتنی په موخه په قانونی توګه ځانی دفاع کړی ده، که څه هم ځینی وختونه کتنې او لاسوندونه په کلکه د نړیوالو بشرپالو قوانینو نقض ته اشاره کوي. د بیلګې په توګه، پر ۲۰۰۷ کال د مارچ د میاشتی پر څلورمه نیټه د امریکایی ځواکونو یو کاروان د یوه موټر چې له چاودیدونکو توکو ډک وو تر کمین لاندې راغلل. په پایله کی یو سرتیری زخمی شو. د نورو سرتیرو د غبرګون له امله، د ځانمرګی برید د ځای څخه تر شلو کیلومترو شاوخوا ۱۹ تنه مړه او ۵۰ نور افغانان ټپی شول. له هغه کتونکې سره چې ما خبری وکړی وویل، کله چې هغه ولیدل چې کاروان ورته نږدې کیږې، دې خپل موټر یوې خوا ته کړ، چې کاروان تیر شي خو سربیره پر دې د کاروان له خوا پر هغې ډزې وشوې، کتونکې ټپي او د ده نور خپلوان چې په موټر کی وو، ووژل شول. په دې اړه د امریکا له خوا څیړنی وشوی، خو پرته له دی نه چې په عامه توګه د سرتیرو د مناسبو کړنو په هکله منطقی دلایل او ارزونې وړاندی شي.[23]

## ت. دملکي وګړو د ملاتړ لپاره هلې ځلې

### 1. ناپلوي

22. دولت او د هغه نړیوال ملاتړ کوونکې، د یوپیاوړي دولت د جوړولو لپاره د ملکي خلکو ملاتړ ته اړتیا لری.[24] همداسی طالبان هم د ملکي وګړو ملاتړ ته اړتیا لری. څرنګه چی د منازعی غاړی د ځایي خلکو د مرستو په خاطر په رقابت کی دي، ملکي خلک له بېلابېلو غوښتنو سره مخامخ دي، چې زیاتره وخت دوی د خشونت له ګواښ سره پرته له دی چې د دوی انتخاب ته پام وشی، مخ دي.[25] دغه راز وژنې چې په روانه جګړه کی رامنځ ته کیږی همدا شان ژوند ګواښی او پیچلی کوي یې، او ملکي وګړی په یوه ناغوښتلې کشمکش کې د دی لپاره چې خپل ملکی ناپلویتوب وساتلی شی، اچوی.[26]

### 2. د طالبانو له خوا ترور او "شپې پاڼی"

23. طالبان په ټولیزه توګه د ملکي خلکو د ډارولو او سزا ورکولو په موخه په ورځنې توګه ترور او وژنې تر سره کوي. په ۲۰۰۸ کال کې ۲۷۱ وژنی تر سره کړي دي. دغه وژنې د هغه غر په شانې ویرونو یوه بیلګه ده، چې د شپه پاڼو په ذریعه د خلکو ترمنځ خپریږی. ځینې شپه پاڼې د جوماتونو، ښوونځیو او مارکیټونو پر دروازو ځړول کیږي، چې د خلکو لپاره په کې ټولیزی لارښونې اوګواښونه راغلې وي.[27] د کنړ له ولایت څخه یو کتونکی د یوې شپې پاڼې په اړه وویل، چې په هغه کې د ښوونځیو پر زده کوونکو او غیرمسلمانو خلکو باندی بریدونو روا ګڼلې وو. نورې شپه پاڼې ځانګړو پتو ته استول کیږي. د کندهار ولایت یوه ښځې د داسې شپه پاڼې په اړه وویل، چې په هغه کی د دې زوي ته د ملی پولیسو سره د کار نه کولو امر شوي وو. وروسته هغه بیا د مشکوکو طالبانو له خوا ووژل شو. د کنړ په ولایت کی د کلې په جومات کې یو داسی شپه پاڼه ځړول شوې وه، چې دری کسان ته په کې ګواښ شوې وو. په پایله کې دوه کسان یې ووژل شول او دریيم کس له هیواد نه بهر لاړ.[28] هغه لارښوونی چې د طالبانو د مشرتابه له خوا خپلو جنګیالیو ته ورکړل شوي دي، په هغه کې د ملکي خلکو وژلو ته په ښکاره ډول صلاحیت ورکړل شوې دې.[29]

### 3. د نړیوالو ځواکونو له خوا ویرونې

24. ملکي خلک د طالبانو له خوا د ډیرو پراخو او ناوړه ګواښونو شاهد دي، مشرانو او نورو، په ځانګړی توګه د کونړ په ولایت کې داسی ادعا شوي دي، چې نړیوال ځواکونو د دوی سره د نه مرستې کولو په پایله کې ټولیز ګواښونه کړی دي.[30] په یوه بیلګه کې نړیوال ځواکونو داسې ګواښ وکړ، چې که چېری په ۲۴ ساعتونو کی بېلابېلې وسلی دوي ته و نه سپارل شي نو دوي به ځو کلي ویجاړ کړي. چې د کلي اوسیدونکو دا خبره و نه منله، نو هغوی د جنازی پر مراسمو د چورلکو له خوا برید وکړ، چې په پایله کی۶ تنه ووژل شول. د کنړ په ولایت کې نړیوال ځواکونو سره زما کتنه و نه شوه، نو ځکه د دوي له خوا په دې اړه ځواب تر لاسه نه شو. د بحث وړ ده، که چېری د کلی اوسیدونکی طالبانو ته په خپل منځ کی ځای ورکړی، نو د ځان د ساتلو په اړه هر څومره محافظوي تدبیرونه که ونیسی بیا هم د پوځی عملیاتو د خطر سره مخامخ کیدل. په دی حال کی د نړیوالو ځواکونو

د بی پروا تګلارې او د دفاع او حفاظت د وضعي په اړه د سختو اندېښنو دليل دا دي، چې دوي ملکي خلک د طالبانو مرسته کوونکي ګڼي.

### ث. د نړيوالو ځواکونو په پوځی عملياتو کې روڼتيا او مسووليت اخيستنه

25. نړيوال ځواکونه په افغانستان کې باید د مسؤليت اخيستلو او روڼتيا اصولو ته پوره پام وکړي او هغه مهم وګڼي، او د دی اهميت به دا وي، چې په نورو مواردو کې تری کار واخلی.[31] ما هيڅ داسې مدرک او شواهد ندی ليدلی، چې نړيوال ځواکونه د بشری حقونو او نړيوال بشر پالو قوانينو څخه په پراخه توګه سرغړوې کړې وي. خو د دوي غبرګون او ځواب د ملکي تلفاتو د ادعاوو په اړه، چی د دوي د نيت او ورسره د قوانينو سره د سمونتيا اړخونه په حيرانونکي او خړه توګه سره د قناعت څخه پرته پايلی لري.

26. لومړی، کله چې ما له کتونکو او خپلوانو پوښتنه وکړه، چې هغه کوم ځانګړي نړيوال ځواکونه دی چې دا وژني کوي، حتی هغه خلک چې د ولايتی بيارغوني ټيمونو او نورو پوځی هدو کې يې خپلې دوسيې پرمخ بيولې په لټه او هڅو بوخت وو، هم دې پوښتنې له ځواب ورکولو څخه عاجز ول. د نړيوالو ځواکونو څخه د په موخه سپيناوي پوښتل، د پيچومي او ګډوډ معما په مانا ده، چې دغه تجربه ما په خپله کړی ده.[32]

27. دويم، کله چې خبره د انفرادی سرتيرو مسووليت منلو ته راځی نو بيا داوضعيت نور هم پيچلې کيږی. په دی ځای کې دوه سيستمونه شته، چې دواړه نړيوال مرستندويه امنيتی ځواکونه او ملی قوماندانی په هغه پيښو کی چې باور کيږي، چې د نا قانونه ځواک څخه يې کار اخيستي وي، رانغاړي. د نړيوال مرستندويه امنيتی ځواکونه يو قوماندان د رسمی تورونود ځوابولو، د انديښنې وړ کورنی معلوماتو، او حتی د يو ورځپاڼی د رپوټ په هکله د ځواب وينی لپاره کولای شی د ماموريت د څيړنو يوه کميټه راغونډه او وټاکي. د دغی پلټنی ليدلوری حقوقی ارزښت نه لری، خو هغه پيښو ته ځواب ويل دي، کوم چې کولاي شی دغه ماموريت تر پوښتنی لاندې راولی. دغه کميټه ارزونه کوي، چې آيا هغه ځواک چې تری کار اخيستل شوي وو متناسب وه او که نه. موندنې د نړيوال مرستندويه امنيتی ځواکونو قوماندان او اړوند هېواد ملی قوماندانې ته ځي. د تر سره شوې جرم قانونی تعقيب د اړوند هيواد مسووليت دی چې دوي يې استولی دی. په هر صورت کی د دې ضرورت نشته، چې د ملی څيړنو، ضوابطو او د قانونی تعقيب پايلې بيرته نړيوال مرستندويه امنيتی ځواکونو ته وليږل شی. نو پايله يې دا ده، چې په افغانستان کی هيڅ څوک په منظمه توګه د دغی څيړنو او قانونی تعقيبونو د لاسوندونو او پايلو څارنه نه کوی او نه پسی ګرځی.[33] چې دا په بشپړه توګه قانع کوونکی حالت نه دې.

28. نړيوال ځواکونه په افغانستان کی دا مسؤليت لري، چې دا يقينې کړي چې د مسووليت منلو او ځواب ورکولو يو منسجم او واحد سيستم چې افغانان او نور وکولای شی هغه تعقيب کړی، شته. که څه هم دغه سيستم دننه نابسامان او ګډوډ دي، ځکه چې دا څوګوني صلاحيتونه لری، او دا د پوځی عدلي سيستم د ګډوډ کيدو لامل ګرځی. او اړينه ده چې د هغو جلا برخو څخه يو واحد او منظم سيستم جوړ شي.

29. دريم، دا چې نړيوال ځواکونه د ملکي تلفاتو په اړه معلومات په عامه توګه نه خپروي. ښکاره ده، چې د دقيقو شمېرو جوتول چې د باور وړ وي په ډيرو وختونو کی ډير ستونزمن کار دی، ځکه د ملکيانو او طالبانو تفکيک کول هميشه ممکن نه وي. خو د دې پر ځای چې چوپتيا غوره شی، ارقام په پوره احتياط سره بايد خپاره شی او د ناڅرګندو حالاتو په اړوند توضيحات ورکړل شی. د روان حالت د ناسموالی په اړه، د ناتو په هغه ځوابيه کی چې افغانستان ته زما د ماموريت په پای کې د نورو موندنو سره يو ځای خپرې شوې، پوهيدای شو. د ناتو وياند داسې وويل "هغه نظريې چې وايی نړيوال پوځی ځواکونه ۲۰۰ ملکي خلک وژلی دي، دا رقم موږ رد وو او دا ډير زيات دي" ولی هغه بيا د کوم اټکلي شمېرې د ورکولو نه ډډه وکړه.[34] چې دا وضعيت هيڅکله د منلو وړ ندی.

30. څلورم، نړیوال ځواکونه د ادعا شویو تېریو د څېړنې په باب د نورو غاړو سره باید لا زیاتې مرستې وکړي. د پیښو په څېړنو کی د دولت او نړیوالو ځواکونو تر منځ یو څه همکاري شته. څرنګه چې د دولت یو لوړ پوړي چارواکي وویل، دولت لمړی واقعیتونه روښانه کوی، او وروسته به دا موندنی د نړیوالو مرستندویه امنیتی ځواکونو(آیساف) د موندنو سره وارزول شي، چې ولیدل شی څرنګه عملیات پلان او تر سره شوي وي. د معلوماتو دا دوه سرچینې به دا پوهه رامنځ ته کړی چې آیا ملکیان وژل شوی او ولی. دا ډیر د افسوس وړ ده چې د دغه څېړنو موندنې خلکوته نه ښکاره کیږي. سر بېره پر دي کله، چې نړیوال ځواکونه هغه تورونو ته کوم چې د نورو سرچینو له خوا ورته ( لکه یونما او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون) له خوا رسیږی، ځواب وایې، خو دوي دا وړتیا هم لري، چې دغه کار په ریښتنې او بشپړه توګه وکړی. چې په هغه کی د معلوماتو د محرمیتونو حذفولو کې چټکتیا او د جامعو او بشپړو معلوماتو شریک کول، د ویډیویې انځورونو (لکه د جګړی ثبت شوې غږونه) د عملیاتو بشپړه مجموعه (د عملیاتو د پرمختګ او څرنګوالی په اړه قدم په قدم معلومات) په شمول.

## ج. د زیانمنو لپاره دزیان جبران

31. دولت هغه ملکي خلکو ته، چې د مخالفانو له خوا وژل کیږي یو څه پیسی (۱۹۰۰ امریکایی ډالرو په شاوخوا) ورکوي، چې دا تګلاره ډیر رڼه نه ښکاری، او په ډیر نا قانع کوونکی توګه تر سره کیږي. بیلابیل نړیوال ځواکونه د پوځې عملیاتو د زیانمنو د زیان د جبران په اړه بېلابېلې تګلارې لري. دارنګه د پیسو ورکونه د بشری حقونو او بشر پاله قوانینو څخه د تیریو په وړاندی د تاوان ورکول د نړیوالو قوانینوسره سمون لری.[35] په ټولیزه توګه دولتونو د (د زړونو او فکرونو خپلولو) پر اصل باندې فکر کوي، او د الزام له مفهوم څخه ډډه کوی. خو حقیقت دا دې چې تاوانونه په زیاتیدونکی ډول زیاتره د هغو کسانو کورنیو ته چې وژل شوی وي ورکول کیږي، حتی په مشروع بریدونو کې وژل شویو ته هم ورکول کیږي، او دا د پخوانیو منازعو زیانمنو ته رسیږي. عام شوی اسناد د دی وړتیا نه لري، چې د هغو قربانیانو چی پیسې یې تر لاسه کړی کچه اټکل کړي. سره له دی، معلومات لرونکو کتونکو وویل چی قربانیان په ورځنی توګه سره پیسی تر لاسه کوی، که څه هم هر وخت د دی کار تر سره کول آسانه نه وي، او دا پیسی پر خپل وخت او منصفانه نه دي.

32. په ځانګړي توګه ښځي له ستونزو سره مخامخ دی. د کندهار دهغو ښځو په مرکو کې چې خپل نرینه یې په هوایي بمباریو، د طالبانو په بریدونو، د نړیوالو پوځی ځواکونو او یا د کاروانونو په ډزو کی له لاسه ورکړی دي، څرګندیږي، چې د دوی عواید له منځه تللی او یا تر ډیره بریده کم شوي. له دوی څخه یو څه کسانو د دولت او یا نړیوالو مرستندویه امنیتي ځواکونو څخه پولی مرستی تر لاسه کړی دي. خو نور زیات شمیر یې د دغو مرستو د ترلاسه کولو لپاره حتی نه پوهیږی چې څرنګه خپلې هڅې پیل کړی. که چیری دوي نیکمرغه وي نو د دوي کورنی به یې ملاتړ وکړی. ځینی یې کار ته شاملیږی، او دویمه درجه د کار اجره تر لاسه کوی. او نورې یې ښوونې او کار ته لاسرسی نشي پیداکولاې، نو د خپلو اولادونو د خوړو لپاره سوالګری ته اړ کیږي. د خسارې جبران په ځانګړی توګه د ښځو لپاره ډیر مهم او اړین کار دی، او دا کړنلاره باید د دوی د خاصو شرایطو په نظر کې نیولو سره ترتیب او جوړه شي.

33. د نړیوالو ځواکونو په منځ کې د امریکی هیواد د تاوان ور کولو سیتم د نورو په پرتله منظم دې. قوماندانان واک لري چی د ډاډګېرنی او جبران کولو په موخه پیسی اجرا کړې، او دوی اکثراً دا کار کوې. په یاد شوېو دواړو حالتو کې د یوکس د وژل کیدو په صورت کی تر ۲۵۰۰ امریکایی ډالرو پوری ور کول کیږې. یو برطانوی قوماندان وویل، چې دوی دغه شان مرستې د عمومي لاربښودنو او د متضرر له جانبه د کلي د شورا سره په تفاهم کې ټاکل او ورکول کیږي. یو شمیر نور د آیساف غړې هیوادونه هم ورته کړنلاره لري. خو ځېنې هیوادونه دا کار نکوې. د پورته یاد شوو پېسو ورکول په خپل ذات کې د حقوقی مسؤلیت د منلو اندیښنه ښایې را منځ کړي. مګر تر هغه چې لیدل کیږې او د پېسو ورکونکو هیوادونو له خوا ویل شوې، چې نوموړی اندیښنه ځاې نلري. بله اندیښنه چې له دی کبله یې د را منځ ته کېدو شونتیا شته، هغه د"بشر پاله کومکونو د ډګر" تر اغیزی لاندې راتلل دي د پوځیانو له خوا د "مرستو" د ویش پر مهال. دا د توجیه وړنه ده: دا ډول مرستې د یوه مسُول پوځې عمل بشپړونکی برخه ده تر هغې چې د بشر پاله فعالیتونو اړوند دنده وي. د پېسو ورکولو روانه لړې ډیره امیدورکونکې او په ډیرو مواردو کې بې جوړې ده. د قانونی مبنآ نشتوالی او یو ډول ګډوډی هغه ځانګړتیاوې دي چې دا سیستم تر پوښتنی لاندې راولې. هغه په دې معنی چې کله د یو کس د مړینې په صورت کې پېسی ورکول

کیږي، نو دا اړه نیسي له دې سره چې کوم هېواد ښکیل دی، د قوماندانانو او دولتي چاروکو د روش څرنګوالي او بالاخره د پاتي شوې کورني هڅي او لاس رسي د دغه مرستو په تر لاسه کولو کې څومره اغیزه او وړتیا لري.

## ح. پر طالبانو اغیزه اچول

34. د هغو نا قانونه وژنو او نورو بشري حقونو تیري، چې طالبان یې تر سره کوي په ځواب کې ډیرې لږ هڅي تر سره شوې. په ځانګړي توګه قومي مشرانو پر دې ټینګار وکړ چې د طالبانو پر کړونو د اغیزې اچولو په موخه باید لارې چارې ولټول شي. په داسې حال چې عمومي توافق پر دی دی، چې دا یو ګران کار دی، خو موخې ته د نېږدې کیدو څو شوني لارې وړاندې شوې دي.

35. یو شمیر په دې نظر دي چې د دین پوهان او عالمان کولای شي، چې د طالبانو هغه کړني او تکتیکونه چې اسلامي او نړیوال قوانین نقض کوي را محدود کړي. دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو د دیني عالمانو کړې تر اغیزی راوستل شوني نه ښکاري، خو ما سره کوم چا چې خبرې کړې دي په دې اند دي، چې عالمان کولای شی په نامستقیم ډول سره طالبان تر اغیزې لاندې راولي. د معتبرو علمآوو له خوا د طالبانو پرناوړه کړونو د غندلو فتوا ګانی د یو اقدام په حیث وړاندی کیږي.[36] او بل دا چې اسلامي پوهان، قومي مشرانو ته هغه اصول او اسلامي بنسټونه او اصول ور وپیژني، کوم چې د جګړې له اصولو سره تړاو ولري. دا به قومي مشران پر دې باندې قادر کړي تر څو ځایی قوماندانان دې ته وهڅوې چې د ناوړه تکتیکونو څخه لاس واخلي او د دغه تکتیکونو څخه پراخ ملاتړ را ټیټ شي، او له بله پلوه هغه ځوانان چې له دغه شان ناوړه جګړه یزو تکتیکونو څخه کار اخلي زړه توری شي.

36. د طالبانو په اړوند د"نوم اخستېلو او شرمیدلو"د ستراتیژۍ په اړه بیلابیل اندونه شته. یوه نظر ورکونکي وویل، د هغه وخت نه چې طالبانو د ځانمرګو بریدونو د مسؤولیت منلو څخه ډډه کوي، چې درانه ملکي تلفات لري، شاید د دوی سره د خپل شهرت په اړه اندیښنه وي. د سرغړونو او تېریو مستند کول او خپرول ممکن د دوی پر عملیاتو او کړونو اغیزه واچوي. یو بل نظر ور کونکي وویل چې دا ارزونه د طالبانو پریکړې د پوځي عملیاتو په اړوند او ټولنیزو اړیکو څخه د سترګو پټولو په معنی ده. سره له دی چې د طالبانو ځیني لوړپوړې قوماندانان ممکن ځیني څرګندې حملې پټې کړي تر څو د هغې سیاسی ګرد را لږ کړي، خو بیا نور ځایي قوماندانان داسې منځني او یا بهرني انګیزی نه لري چې د مطبوعاتو د توپیرلرونکو رپوټونو څخه ډډه وکړای شي. له دې نه څرګندیږي چې د راتلونکو زیانونو د قابو کولو لپاره پوره انګیزې شته خو دا انګیزې د حقیقی بدلون او تغییر لپاره کافي نه ګڼل کیږي. ثبوت شته، په هر حال، د شهرت اندیښنې په داسې کوښښونو اوښتې چې ریښتنې مسؤلیت یې را منځ کړي تر هغې چې وروسته د یوه حقیقت نه یوازې د هغې ښوودنه وي. د طالبانو رهبری داسی اوامر صادر کړی چې ځانګړې تیرې لکه د ـــ سر غوڅول[37] ـــ یې منع کړې دي او دا په نیمګړې توګه د دوی د جګړه مارانو له خوا د درناوۍ وړ ګڼل کیږي.

37. ډیر خلک چې ما خبرې ور سره وکړې، په تیره بیا مشران د دولتونو او نورو بین الدولتی ادارو څخه د طالبانو د تیریو په اړوند د ناکافي غبرګون څخه نا خوښ وو. ډیرو دا خبره هم کوله چې پاکستان باید د هغو طالبانو د قابوکولو په هکله ډیر څه وکړې کوم چې د دوې تر ولکي لاندې سیمو کې شتون لري. د ملګرو ملتونو او اسلامي نړیوال کنفرانس څخه په وار وار غوښتل شوي چې د طالبانو تیرې وغندي، او پر هغو دولتونو فشار واچوي چې د طالبانو پر کړنو اغیزه لري. په داسې حال کې چې یو شمیر هیلې واقعبینانه نه ښکارې، د لمس وړ ناکامیانی او کوم کوښښونه چې تر اوسه شوې، د راوېښیدو لپاره یو زنګ بلل کیږي.

38. یو تعداد نور بیا داسې نظر لري چې نړیوالو غاړو ته داسې په کار وو، چې د طالبانو سره په مستیقیمه توګه کتلي وای او هغه لاملونه چې د ناوړه تکتیکونو سبب ګرځي موندلي او د هغه لاملونو د منځه وړلو په موخه یې فشار اچولي وای. په سویل کې مشرانو او مخه ورو ما ته وویل چې هر کله نړیوال پلاوي راشي نو یوازې د یوه اړخ سره ګوري او خبرې کوي. یوه نړیوال پوځي قوماندان کله چې پوه شو چې ما د طالبانو له پلاوي سره ندي کتلي تعجب څرګند کړ. په ټولیزه توګه کله چې ما د هیواد څخه لیدنه کوله او د حقیقت موندنې دنده مې تر سره کوله، ما د یو شمیر وسله والو مخالفو ډلو سره وکتل، مګر ما د طالبانو او یا کومې بلې مخالفې ډلې له رسمي پلاوې سره ندي کتلي.[38] که تیر مهال ته کتنه وشي دا یوه تیروتنه ده. ددغه منابعو معلوماتو ته کتنه کیدای شي چې

د طالبانو او نورو وسله والو مخالفینو ستراتیژیکاني او موخې په جزیاتو سره څرګندې کړي. په پام کی باید وي چې ددوی توضیحات او دلایل د ناوړه تکتیکونو څخه د کار اخستلو په اړوند شاید خودغرضه او تقلبی وي، خو دلیل نشته چی داسي اټکل وشي چې طالبان هیڅ وخت ددې لپاره تشویق کیدای نشي چې خپلې کړنې داسی تعریف کړی چې بشری حقونو ته پکې درناوی نه وي. څرنګه چې سچه او بې پرې بشر پاله اړیکو په تیر مهال کې ښې پایلې درلودې.[39]

39. د دولت اندیښني په مختصر ډول د یوه رسمي مقام له خوا بیان شوې. په داسی حال کې چې دولت کولای شي د یوې یا ټولو داخلی ډلو سره خبرو ته ورګډ شي، نو د نړیوالي ټولنې ښکیلښدل په دې پروسه کې کیدای شي چې د دولت خپلواک دریځ د یوې تشې ډلې تر حده په دې ملکي جګړه کې را ټیټ کړي. ددغه اندیښنې حل کول د سیاسی مذاکری او مفاهیمی له طریقه شونی ښکاري. آیا د بشری حقونو بنسټونو تقرب د کړکیچ د اغیزو د را ټیټولو په موخه ورته اندیښنې را منځ ته کولای شي؟ لمړی، د دا شان اړیکو نیول ښایي ډلو ته تر یوه ځایه د"مشروعیت" ورکولو خبره را پورته کړي، د اړیکو نیول د یوې ځانګړې پیښې په اړه د نظر اخېستلو په موخه، د کړونو د غندلو، او ددوی هڅول د بشري حقونو او نړیوال بشر پاله قوانینو ته د پام راګرزول هغوی ته "مشروعیت" نشی ورکولای. دوهم، دا چې په ډیرو نورو هیوادونو کې دولتونه، د بشري حقونو بنسټونو ته د وسله والو مخالفو ډلو سره د اړیکو نیولو ته اجازه ورکوي. اصلي خبره دا ده چې نړیواله ټولنه دبشري حقونو مطابق هیلې لري، او د هغو هیلو پر بنسټ طالبان او نورې وسله والې ډلې را نغاړي. نړیواله ټولنه دوی د ځانمرګو حملو، د ښوونکو د وژلو، او نورو اعمالو چې د بشري حقونو له اساساتو سره همغږي نلري، په اړوند تر انتقاد لاندې راولي. دغه هیلی د خلکو د ساتنی په موخه باید په کار واچول شی تر هغې چې د"مشروعیت" بحث پرې وشي. نړیواله ټولنه باید ټول هغه څه وکړي چې د بشري حقونو رعایتول پر ټولو غاړو ومني. نو دې ته په پام سره، زه د بشری حقونو بنسټونو ته وړاندیز کوم چې په راتلونکي کې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو سره اړیکې جوړې کړي.

## III. د پولیسو سمون او ملیشه

40. د هیواد په ډیرو سیمو کې پولیس د دولت هنداره ده. په ډیرو ولسوالیو کې پولیس د دولت یواځېنۍ رسمي مقام دی، چې خلک سروکار ور سره لري، د دولت مشروعیت تر ډیره بریده پر دوی باندې را څرخي. دغه مشروعیت تر هغې پر ځای وي چې دوی قانون او اوامر مراعات کوي، مګر که دوی شکنجې، ویروني، او وژني ته مخه کړي نو دا مشروعیت بیا نشته. پولیس اکثرآ د ټولنې د ګټو او تنوع استازیتوب په بشپړه توګه سره نه کوي. هغوی په څرکنده توګه د یوه قوم او یا د یوه قوماندان پلوي وي.[40] د عامو افغانانو لپاره داسې معنې لري چې پولیس د نظام او قانون د تنفیذ دنده نه تر سره کوي، بلکه دوی د یوه ځانګړي قوم یا قوماندان د ګټو لپاره کار کوي.

41. یادشوې ستونزې په سویل کې ډیرې محسوسې دي، د نا امنو سیمو مشرانو ویل، چې د پولیسو د تیریو له کبله خلک د طالبانو حمایت ته زړه ښه کوي. یو لوړپوړي دولتي چارواکي د هغه امنیتی ستونزو په هکله چې د دواړو غاړو هم د طالبانو او هم د جنایي عناصرو چې د دولت په امنیتی چوکات کی شتون لري، د خپل ولایت په سطح خبرې وکړې. یو نړیوال پوځي قوماندان په څرګنده وویل، چې د دوی د مسئولیت په ساحه کې پولیس په فساد ککړ او غارتګرې کوي او خلکو د پولیسي خدمتونو د وړاندې کولو بیلګې ندې لیدلې، مګر د دوی د مالونو او پیسو د غصب کولو نه پرته. په حقیقت کې چې ټول خلک، څه په دولت کې او یا د دولت نه باندې وایي چې د افغانستان پولیس د پوستو د نیولو په موخه، هره ورځ د خپل معاش نه زیاته اندازه پیسي ورکوي، تر څو هغه پوسته د خپلو شخصي ګټو لپاره وکاروي.

42. د دولت او نړیوالې ټولنې له خوا تر اوسه واقعیتونه په پوره ډول ندي پیژندل شوي.[41] هغه ټول فرصتونه، چې فساد او سرغړونکي کسان باید د امنیتی دستګاه او د دولت د قدرت له ساختمان څخه لیرې شوي وای، په پر له پسې ډول له لاسه وتلي. د رتبو او معاش پر اساس سمون د دې موخې لپاره چې افغانستان پولیس د یوه پرسیدلې، ملیشه یي او بې مسٔولیته پولیسو څخه، یو ملي اومسلکي قوه ته راوګرزي تر یوه بریده کامیابه وو، خو دتطبیق پروسه یې سړه او سوکه ده. همدا راز هغه نوماندان چې د غیر قانوني وسله والو ډلو سره یې تړاو درلود، د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو څخه سره له دې چې د ټاکنو قانون حکم کوي، رد نشول.

43.   ددغه ناکامیانو مهم لاملونه د ”ثبات او امنیت“ او”بشری حقونو“ تر منځ د نا سم انشعاب د شتون منل، او ”ثبات او امنیت“ ته د لومړیتوب ورکولو تمایل دی. په واقعیت کې دا یو نیمګړې برداشت دی. څرنګه چې یو لوړپوړې چارواکي ما ته وویل، زیادتره وسله وال مخالفین د شکنجې، تیریو، او ناسمو کړونو له کبله چې پخوانی چاروا‌کي (د ده پخواني ځای ناستې) کړي وو، له طالبانو سره یو ځای شول. دا باید په پام کی ونیول شي چې د بشری حقونو مراعات کول او درناوی د دولتی امنیتی ځواکونو له خوا د امنیت او ثبات راتګ لپاره ډیره ضروري ده.

44.   د پالیسې په اړوند ددې معنی څه ده؟ البته چې بې شمیره پرمختیایي پلانونه، سکتوري ستراتیژی ګانې، روزنیز پروګرامونه او داسې نور شته چې د دولت امنیتی ځواکونو هر اړخ را نغاړي. خو ډیرې ستونزی لا هم شتون لري.

45.   لمړې، افغانستان داسی د پولیسو ځواک ته اړتیا لري، چې دواړه هم د قانون د تنفیذ او هم پوځ ته ورته دندې تر سره کړای شي. د توپیر لرونکو پالیسیو د دوو بنو په اړوند څرګند بحث شتون لري. یو شمیر په دې اند دي چې د غلاګانو، خپل منځني شخړو، او وژنو د مخ نیوې او د هغې سره د مخ کیدو په اړوند باید کار وشي. خو نور بیا په دې اند دي، چې د پولیسو ځواک د مخالفینو سره د جګړې په جهت کې سوق شي. مګر د مسُلو دا ډول مطرح کول ګټور نه ښکاري. د پولیسو هر راز ځواک چې د هغو جرمونو چې د خلکو ورځني ژوند ټکني کوي مخ نیوې ونشي کړاې نو خپل اعتبار له لاسه ورکوي. او د پولیسو هغه ځواکونه چې په منازعي ځپلو سیمو کې بوخت دي، باید د یاغیانو سره د مقابلې لپاره اړینې تیاری ولري.[42] د افغانستان ملي پولیس باید دا وړتیا هم ولري، چې د پولیسو ورځنې دندې تر سره کړي. روزنې باید په دواړو برخو کې وي.

46.   دوهم، یوازې د روزنې ورکول د افغانستان پولیس نه شي رغولی. روزنې مهمې او اړینې دي، خو هغه څوک چې د خپلو علیماتو د قانونمند کولو سره علاقه ولري په آسانۍ سره دا کار نه پریږدي، ځکه چې دوی د بشري حقونو نړیواله اعلامیه لوستې د جګړې د میدان دستورالعمل باندې پوهیږي.

47.   په هر صورت، دولسوالیو د پرمختیا پروګرام په غیر منتظر ډول سره د ټوکلي او سوچه ریفورم په موخه جوړ شو. د دې پروګرام پر بنسټ د ولسوالیو ټول پولیس د زیاتو روزنو په موخه بل ځای ته ځي. کله چې دوی تر روزنې لاندې وي، د ټولنیز نظم ملی پولیس د دوی ځای نیسي. هغوی عموماً ښه روزل شوي دي. ولی؟ ځواب کیدای شي قسماً د دوی ښه روزنه وي، خو کوم شي چې روښانه دي، هغه د ځایي قبیلو، قوماندانانو او یا جنګسالارانو سره د ټولنیز نظم ملی پولیسو د اړیکي نه شتون دی. د تقرب یا نیږدو کیدو څو احتمالي روشونه شته، چې د رتبو اومعاش ریفورم څخه بیا تر ملي ژاندارمې جوړښتونو پورې رسیږي. مګر داسې کوښښ باید وشي چې د افغانستان ملی پولیس په داسې یو ځواک بدل شي، چې د ټولنې ګټې غوندي او د خاصو قبیلو، جنګسالارانو، او سیاست والو د ګټو لپاره ونه کارول شي.

48.   دریم، دولت باید د نورو ملیشو له جوړلو او مشروع کولو څخه ډډه وکړي. داسې بریښي چې متروکو ”کمکی پولیسو“ او ملیشو ته د دولتی یونیفورم ورکول او د هغوی قانونی کولو ته ډیر لږ څه پاتي دي. دا معلومه نده، په هر صورت، ددې تجربې درسونه په ښه توګه موږ ته ښودنه کوي، او روان ټولنیز پرمختیایي پروګرام د اندیښنې وړ دی.[43]

49.   څلورم، پولیسو ته باید لا زیاته روزنه او ښه تجهیزات ورکړل شي، تر څو د هغوی د مرګ کچه را ټیټه شي، څرنګه چې معلومیږی دا کچه پنځه ځلی د ملي اردو څخه زیاته ده.

50.   په پای کې، د پولیسو او نورو وسله والو ځواکونو له خوا چې د دولت تر واک لاندې دي، د وژنو مسُله تر ډیره حده پټه شوې او سترګې پرې پټې شوې دي. دغه راز کړنو ته باید د پای ټکی کیښودل شي. په داسې حال کې چې د دغو وژنو دقیق ارقام نشته، خو پیژندل شوې پیښې دا څرګندوي، چې د ورته پیښو شمیر زیات دی. د یوه سیستم د جوړیدواړتیا ډیره روښانه ده، تر څو دا اطمینان تر لاسه شي، چې د پولیسو او یا ددوی د سیاسی مربیانو

له خوا د چا د وژنې په صورت کې، بې پرې تحقيقات او څېړنې کېږي. د نهو تنو وژل کېدل او د ۴۲نا وسله والو مظاهره چيانو ټپي کېدل په شبرغان کې په ۲۸ مې ۲۰۰۷ د ملی پولیسو او يا د والی شخصي ساتندويانو له خوا يو ښه داګېزه بېلګه ګڼل کېږي.[44] ځايي او ملي سياسي ګټې پر دې راڅرخي، چې کارنده او بې پرې څېړنې تر سره نه شي. هدف دا وي، چې وخت له لاسه ووځي تر هغې، چې شواهد د منځه لاړ شي او سياسي ګرد يې کيني. مسُله بيا وروسته په آساني سره له منځه يوړل شي. قربانيان او د هغوی کورنې له ياده ويستل شي.

51. محلي پوليس هيڅ وختددې جوګه نه دي، چې په حقيقي معنی سره د خپلو کړونو تحقيقات وکړي.[45] د ملي پوليسو تحقيقاتي کاري ګروپ بايد ددې موخې لپاره جوړ شي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون تحقيقاتي امکانات بايد لوړ شي، او ځايي او ملي چارواکي بايد د کميسيون موندنو ته د ځواب ويلو وخت پيدا کړي.

## IV. عدلي او قضايي سيستم

### الف. لنډه کتنه

52. سربيره پر دې، چې زيات شمير ملکي افغانان د رواني وسله والي منازعې په ترڅ کې له منځه ځي، دوې د قانون او نظام د نشتوالي له کبله د بې امنيتي سره مخ دي. ډېر لږ شمير جنايي وژنې په مناسبه توګه څېړل شوې، او محاکمه شوې او لږ شمير عاملين محکوم شوي دي.[46] دا معافيت د عدلي قضايي سيستم د ناکاميو له کبله را منځ شوی. که څه هم په کړنو کې د پام وړ تغييرات راغلي، او رسمي عدلي قضايي سيستم له هغو هيوادونو سره چې پر مدني قانون ولاړ دي سمون لري.[47] په عمومي توګه پوليس څارنوال ته د جرمونو رپوټ ورکوي، څارنوال په خپله او يا د پوليس په مرسته څېړنې تر سره کوي.[48] که چيرې څارنوال د متهم پر ضد کافي شواهد پيدا کړې، نو بيا هغه اتهام ليک د ولسوالي محکمې ته وړاندې کوي.[49] د ولسوالي د محکمې پريکړه کيداې شي د استيناف په موخه ولايتي محکمې ته لاړه شي.[50] سترې محکمې ته رجوع په هغه وخت کې کيداې شي چې د ښکتنيو محکمو په پريکړو کې حقوقي نيمګړتياوې وي او يا د غير قانوني شواهدو پر بنسټ پريکړې شوې وي.[51] ستره محکمه کولای شي چې د نويو شواهدو د موندنې په صورت کې يوه کميټه وګماري او پر شوې پريکړه باندې له سره غور وکړي.[52] ددې رسمي او مناسب سيستم د شتون سره سره، بيا هم ما ته داسې د وژنو شکايتونه ورسيدل، چې څېړنې نه وې شوې، او څارنوالان يې تعقيب شوي نه وو، او ددې فساد په نتيجه کې ډېرو برأت اخستی.

53. د تحقيق او پيګيرې په لمړيو پړاوو کې، يوه ستونزه هم د پوليسو او څارنوالانو تر منځ د مرستې نه شتون دی. د قانون له مخې پيګيری او تعقيب د پوليس او څېړنې د څارنوال دنده ګڼل کيږي. خو دا په عمل کې داسې نه ښکاري. په تير مهال کې داسې وو چې د کورنيو چارو وزارت (پوليس د هغې تر امر لاندې دي) او لوی څارنوالی (څارنوالان د هغې تر امر لاندې دي) د يوی کميټې په توګه کار کاوه، د تعقيب او تحقيق چارې يې همغږې کولې، او په يوه وخت به يې مناسبه پريکړه واوروله. اوس داسې نه ده.

### ب. فساد او معافيت

54. د عدلي سيستم لپاره ځانګړې بدلونونه اړين دي، فساد د ډېرو ستونزو منبع او سرمنشآ ګڼل کيږي. او هغه د پوليسو، څارنوالانو او قاضيانو لپاره يو معمول کار دی. دولتي چارواکي بې پردې پر دغه ستونزو خبر دي. دولتي لوړپوړو چارواکو وويل چې فساد په هغه اندازه زيات دی چې د باور وړ ندې، او دا يې ومنله چې ددوی په اداراتو کې فساد شته. د زياتو افغانانو سره چې ما کتلي، وايي چې د فساد رسوايي په همغه اندازه ده چې د هغې شيوع ده. يو مصاحبه کونکې وويل، کله چې تاسې محکمې ته لاړ شي نو د هغو کسانو له خوا چې د قاضی سره تړاو لري د تاسو د مشکل په اړه پوښتنې او د رشوت غوښتنه کيږي. په پراخه توګه منل شوې هر کله چې شتمن او زورواکې محکوم شي نو هغوی په بند کې تر ډېر وخت نه پاتې کيږي. د پوليسو په اړوند يو بهرنې د پوليسو روزونکې وويل، په يوازې توګه د پوليسو يو غړی په ښه توګه روزل کيدا شي، خو د پوليسو سيستم ډېر په فساد ککړ او د يوه نوی پوليس راوستل دغه شان سيستم ته په دی معنی وی، چې يو څوک ککړځاې ته واچوې او د هغې نه د ځان پاکوالی تمه ولرې. په نتيجه کې د معافيت سيستم د هغې چا لپاره چې په وژلو تورن وي، را منځ ته کوي.

55. په ورځني توګه لوی څارنوالی هغه صلاحیت لرونکي مرجع ده، چي په فعاله ډول د فساد څخه نظارت کوي، او همدا شان د نورو دولتی ارګانانو کاری بهیر تر څارني لاندې نيسي. دا موخي د اداراتو دورانی څېړنو په ترڅ کی او همدا شان د څارنوالی د استازو د اوږد مهاله شتون په نورو دولتی اداراتو کي، تر سره کيږي. دا بهير کولای شي د مامورينو د قانون څخه سرغړونو په صورت کي هغوي ته اصلاحی لارښودونه وړاندې کړي، او د ضرورت په وخت کي د قانونی تعقيب پيل وګټل کېدای شي. په ۲۰۰۷ کال کي تر ۳۰۰ مامورين تر تحقيق لاندی راغلی وو، چی ۹۵ سلنه يې د فساد په تور تر څېړني لاندې راغلي وو. په داسي حال کي چي لوړپوړي چارواکي تعقيب شوي نه دي. دولت د خپلو فساد ضد هڅو په لړ کي ځو تخصصي کميسيونونه په شمول د فساد پر وړاندې عالی اداره چي په دې وروستيو کي جوړه شوې، را منځ کړي دي. خو بايد وويل شي چي ټول هغه اقدامات چي د فساد پر ضد د دولت له خوا کيږي هغه وخت تر سياسی ملاحظو لاندی راځي، چي پياوړی اشخاص پکي راښکيل وي.

56. پراخ فساد په يوه ورځ کي له منځه نه وړل کيږی، خو د داسي يو لمس کيدونکي او پياوړی ميکانيزم را منځ ته کول چي د شاهدانو او شواهدو د احضارولو او محکمی کولو ځواک ولري، ډير اړين ښکاري. د پورته يادشويو ټکو په پام کي نيولو سره، د هغه اجتناب نه منونکو فشارو سره چي د مفسدو سياستمدارانو او هغه دولتی مامورينو له خوا چي د خپلو دندو په خطر کي نه اچولو په سبب له فساد څخه سترګي پټوي، بايد مقاومت وشي. بې پرې د فساد ضد اداری په ډيرو هيوادو کي په شمول د نايجيريا، هانګ کانګ او آستراليا کي په بري سره جوړې شوې دي. د ضروری پيغام د استولو په موخه د يو شمير رښو قضيو د تعقيب او پيګيری د نمونو وړاندی کول ښايی د ګټې وړ کار وي. دا به نړيوال مالی ملاتړ او په ملی کچه د ملکيت احساس منځ ته راتللو ته ضرورت ولري. نړيوالي ټولني ته دا هم پکار ده، چي تر وسه پورې هغه مرسته شوې پيسي چي د فساد د لازياتيدو لامل ګرزی وپيژني، او د ميکانيزمونو د جوړلو مسؤليت لري، لکه د لوړ پوړو نظارت کوونکو ادارو ګمارل، تر څو د دولت د فساد ضد هڅو څخه په ټينګه ملاتړ وشي.

### ج. ښځی او عدلی قضايي سيستم

57. د ښځو ستونزی په عدلی قضايي سيستم کي زياتي او دوی ته ځانګړي دي. زما د ټيم څخه يوې ښځينه غړې په کندهار کی د يوې ډلي ښځو څخه وپوښتل چي که چيري دوې د کوم تيری او يا کوم ګواښ سره مخ شي نو چيرې او چا ته به شکايت کوي. هغه ښځو په کنايه ډوله خندا سره غبرګون وښود. د ډيرو لپاره يوازې د کور نه تګ هم کيدای شي د بدنامي سبب په ټولنه کي وګرزي. که چيرې دوی په دې هم وتوانيږي چي د کور څخه لاړې شي نو ددې بيان کول او ويل دوې شرم ګڼی. او که چيرې دوی پوليسو ته شکايت هم وکړي، نو دوی په دی باور دي چي کوم اقدام به ونشي. دوې فکر کوي چي يوازې به جزا ورکړل شي او يا به بند ته واچول شي د (کور نه د تيښتی) په جرم. په خلاصه ډول سره هغه ښځې چي رټل شوې او يا د مرګ ګواښ ورته شوې وي، هيڅ ځای د پناه وړلو نه لري.

58. د ښځو د سرپناه مراکزچي په دې وروستيو کي په جلآباد او پروان کي جوړ شوي، يو رينښتني بدلون ښکاري. دې ته ورته اقدامات د دولت او نړيوالي ټولني د حمايت څرګندوېي کوي. د ښځو پر ضد د جرمونو د تعقيب په هکله په لوی څارنوالی کي د يوې اختصاصي څانګي جوړيدل به له ښځينه قربانيانو سره مرسته وکړي.

### د. ناموسی وژنې

59. "ناموسی وژني"[53] د افغانستان په بيلا بيلو ځايونو کي د معافيت سره يو ځای ليدل کيږي. په شرقی سيمه کي، د بيلګي په توګه، يوې سر چيني ۴۰ ناموسی وژني د ۲۰۰۷ کال د جنوری څخه تر ۲۰۰۸ کال دسمبر پورې ثبتي کړې دي. ددغه شان پيښو د رپوټ نه ورکولو په دليل، رينښتني شميره يې زياته ده. ډيرې قربانيان ښځي دي، خو نارينه هم وژل شوي. عاملين په ډيره ټيټه کچه سره تعقيب او څيرني شوي دي.

60. په ننګرهار ولايت کي ما د يوه هلک او نجلي د کورني د غړو سره چی (د اکا زامن وو) او د جنسي اړيکو تور پرې لګول شوي وو وکتل. هغوې دواړه د خپلو اکا ګانو له خوا د شپې ډوډی ته بلل شوي وو، او د خوب پر مهال په مرميو ووژل شول. د هلک جسد د هغې کورني ته واستول شو. نجلی پرته له جنازی نمانځه خاورو ته

وسپارل شوه. د کورنی غړیو یوه هم پولیسو ته شکایت ونکړ. پولیس د پیښې په اړه خبر وو، خو هغوی په دې دلیل چې اطلاع نده ورکړل شوې، پېښه یې نده څېړلې او دوی وایي چې د کورنی د اطلاع پرته دوی نشي کولای چې تحقیق وکړي.[54] په کندهار کې زما ښځینه همکارې د ډېرو ښځو سره وکتل، او هغوی ویل چې ددوی په ګاونډیتوب کې داسې پیښې شوی، خو ډېرې لږ یې څېړل شوي. یو ځوانه نجلی وروسته له هغې چې معلومه شوه امید واره ده، د هغې د پلار او ورور له خوا په دار شوه. هیڅ ډول څېړنه او تعقیب ونشو. نورې ښځې د کورنی شخړو له کبله د کور څخه د تللو په قصد مړې شوې دي. د هغه کورنیو چې کوم غړی یې د ناموسي وژنو ښکار ګرزیدلی وي، د هغه کورنې نورې ښځینه غړې د کورنې د ویرې له کبله نشي کولای پولیسو ته اطلاع ورکړي. او دوی پر دې هم پوهېږي چې د پولیسو له خوا به څېړنې ونشي، او که چېرته څېړنې هم وشي نو درشوت ورکولو په پایله کې به عاملین معاف شي. ما ته راپورونه رارسیدلي چې څو قضیو کې پولیسو غوښتل چې څېړنې وکړي، خو لوړپوړیو دولتی چارواکو مداخلې کړیې، او یا یې څیړنې بندی کړې دي. د نورو وژنو په شان نړیوال قوانین دا حکم کوي، چې دا وژنې باید وڅیړل شي، تعقیب او مجازات شي.[55]

**و. د اعدام سزآ**

61. زما د راتګ نه لږ مخکې، ستری محکمې د سلو تنو د اعدام فیصلې چې د تیرو شپږو کالو را په دیخوا ځنډیدلې وې، رئیس جمهور حامد کرزی ته د هغې د منظورۍ لپاره وړاندې کړې. پر اعدامونو د مهلت راوستل قوی دلایل لري، پرته له دې نه، چې آیا په افغانستان کې د اعدام سزآ منسوخه شي. حتی پولیس، څارنوالان او قاضیان هم پدې باور دي، چې عدلی قضایی سیستم د فساد څخه ډک او ددې جوګه ندې، چې اطمینان حاصل شی ټول پړاونه به سم وي. بنآ ددغه شان محکمو له خوا محکومول او جزا ورکول په خپل ذات کې نامناسب او د اعتماد وړ نه وي. هغه څوک چې په مرګ محکوم شوې اکثرآ وکیل ته لاس رسې نه لري، او دوی دداسې محکمو له خوا محکوم شوې، چې نه شواهد او نه هم دفاعی شاهدان رابلل شوي وي. دا په داسې حال کې ده، چې یو شمیر با خبره مصاحبه شوي کسان په دې نظر دي چې تر اوسه بیګناه خلک په اعدام نه دی محکوم شوي، خو نور بیا وایي چې بیګناه خلک په اعدام محکوم شوی دي.

**V. انتقالی عدالت او د تیر مهال د جرمونو لاسوندونو ساتنه**

62. ما دلیلی دښتی ډله یز قبرونه چې د افغانستان په شمال کې دي وکتل. زه ددې شاهد وم چې مصاحبه شویو وویل چې دا د هغې قبرونو پاتې شونې دي کوم چې په ۲۰۰۱ کال کې په د ۲۰۰۰ شاوخوا طالبان چې د شمال ټلوالی او امریکایي ځانګړو ځواکونو له خوا محاصره شوی وو. محل داسې بریښي چې ګډوډ شوي وي، او لکه چې اجساد ترې نه ایستل شوي وي. دا خبره هغو راپورونو چې وروسته زما له سفر څخه خپاره شول هم تایید کړه.[56] د محل او د شواهدو د ساتنې او مستند کولو فوري ضرورت شته، او دا خبری چې څرنکه دا ۲۰۰۰ محاصره شوي کسان ووژل شول، او څوک ددې مسؤل وو چې پدې وروستیو کې د شواهدو د له منځه وړولو تکل یې کړی وه. دا مهمه او ضروری خبره ده، چې دا محل او نور ټول ډله ییز قبرونه په ټول افغانستان کې، خوندي او وڅیړل شي، تر څو د پخوانیو تیریو د معافیت موضوع ته پام شوي وي، او له بله پلوه د دې پوهه رامنځ ته شي، چې تیری د ټولو غاړو له خوا او پر ټولو شوي تر څو د هغې پر بنسټ، جوړجاړي ته لاره برابره شي.

**سپارښتونه**

63. د افغانستان دولت، نړیوال پوځی ځواکونه او د هغوی اړوند دولتونه، طالبان او نور دولت ضد عناصر دا څرګند مسؤلیت لري، چې بیړني اقدامات ونیسي تر څو د ملکیانو د وژنې کچه راټیټه او غیر قانونی وژنو ته پای ورکړي. زما سپارښتونه په لاندی ډول دي:

**د نړيوال او افغان پوځی ځواکونو له خوا وژنې**

.ـــ نړیوال ځواکونه باید هغه ټول قواعد په پام کې ونيسي تر څو دا اطمينان تر لاسه شي، چې هوايي ځواک هغه وخت وکاروي چې د موخې هويت څرګند او د اتفاقی ملکی مرګ ژوبلې کچه د پوځی لاس برې کوم چې انتظار يې کيږي څخه زياته نه وي.

.ـــ نړیوال او افغان ځواکونه هغه شرایط باید وارزوي تر کومو لاندې چې دوې د شپې له خوا نه اعلان شوې بريدونه کوي، تر څو هغه نورې لارې ولټول شي چې نورو اوسيدونکو ته يې زيان لږ وي.

.ـــ هوايي بمبارد، د شپې بريدونه او نور بريدونه باید هيڅ کله د مشکوکو او ناتاييد شويو معلوماتو پر بنسټ نه وي. دا به ښه وي چې دولت او نړيوال ځواکونه استخباراتی معلومات سره شريک، او د ښې څيړنې په موخه ميکانيزمونه جوړ، او دا اطمينان حاصل شي چې عمليات يوازی د ثقه او تاييد شويو معلوماتو پر بنسټ تر سره کيږي.

**د طالبانو له خوا وژنې**

.ـــ طالبان باید د جنګ هغه ټول شکلونه او روشونه چې نړيوال بشر پاله قوانين نقض کوي بند کړي، چې په پايله کې يې د ملکيانو نا قانونه وژنې منځ ته راځي. د طالبانو رهبری باید داسې روښانه اوامر صادر کړی د تر څو د هغه څه نه چې د نړيوال قوانينو پر خلاف وي ډډه وشي. دا په مشخصه توګه په لاندی ډول دي:

(الف) په هر ډول شرايطو کې د ملکی خلکو ډارول او وژل بند کړي، او همدا راز د ملکی خلکو ډارول په دې نامه چې دطالبانو سره مرسته نکوي او يا د دولت ملاتړ کوي بايد ودرول شي.

(ب) د انسانی ډال څخه کار اخيستنه په دې موخه چې نړيوال او افغان ځواکونه د حملو څخه لاس واخلې باید ودرول شي.

(ج) په ځانمرګو حملو کې، د ملکی خلکو موخه ګرزول باید بند شی، او ناقانونه نيرنګونه څخه کار اخستل پدی حملو کی باید ودرول شي، او همدا راز د څيرې بدلول د ملکيانو، عسکرو او يا پوليسو په بڼه کی ځان راوستل، باید ودرول شي.

.ـــ بشری حقونو او نړيوالو بنسټونو ته لازمې ده، یو شمير داسې اقدامات وکړې، چې پر طالبانو او نورو وسله والو ډلو فشار راوړي او هغوی دې ته وهڅوي چی بشری حقونو او بشر پاله قوانينو ته درناوې ولري. بشری حقونو ته د درناوی د پراخوالي په موخه کيداې شي چې له دوې سره اړيکې ونيول شي او هڅی وشي. دا راز هڅې د امنيتی امکاناتو او د امنيت د شورا د ۱۲۶۷ پريکړې په پوره سمون کې باید وشي.

**نړيوال ځواکونو غبرګون د ملکيانو د وژنی په اړوند**

.ـــ نړيوال ځواکونه بايد ددې جوګه وي چې د عسکرو له خوا د نا قانونه وژنود تورونو د څيړنو شونتيا رامنځ ته کړي. او دا تضمين وشې، چې ددغه شان وژنو عاملين تر قانونی تعقيب لاندې راشي.

.ـــ نړيوال ځواکونه باید د هغو هڅو سره چې نا قانونه وژنې څيړي پوره مرسته وکړي، په ځانګړې ډول د يونوما او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون سره. دا مرسته باید په چټکه توګه او د اړوندو معلوماتو ورکول، د ويديو فلمونو او نورو موادو شريک کول هم راونغاړي.

ــ د ملکی تلفاتو اړوند پوځی څېړنو پایلې او د موندنو په هکله معلومات او لاملونه باید عام شي. دا رنګه معلومات باید د قربانیانو کورنیو ته هم ورکړل شي. د مثال په توګه د امریکا د محکمی فیصله د ۴ مارچ ۲۰۰۷ کال چې په ننګرهار کی پیښه شوه، باید عامی ټولنې ته وړاندې شي.

ــ نړیوال ځواکونه باید ددې تضمین وکړي، سره له دې چې ماموریتونه پیچلې او زیات دي او له بله پلوه د ملک عدلی قضایی سیستم نا متجانس دې، نو هغه چا ته چې زیان رسیدلې وي وکړای شي چې پوځی هډې ته لاړ شي، او بی له ځنډه د عاملینو په اړه معلومات ورکړل شي، او ورته وویل شي چې څوک د کوم عمل لپاره مسُول دي، او د څېړنې او قانونی تعقیب په هکله لازم معلومات ورکړل شي. ددې لپاره داسې وړاندیز کوم.

(الف) که چیرې د عسکرو کرنې د هغې په متبوع هیواد کې څیړل کیږی او یا تر قانونی تعقیب لاندی راځی، نو د څېړنو مرحلې، ضوابط او د قانونی تعقیب پایلې باید آیساف ته افغانستان ته راولیږل شي.

(ب) د ملی څېړنو او قانونی تعقیبونو پرمختګ او پایلی باید د آیساف لخوا پیګیری شي.
(ج) دا معلومات باید ټولو ساحوی قوماندانیو، ولایتی بیا رغولو تیمونو او هغه چا ته چې په مستقیمه توګه زیان رسیدلې وي، د لاس رسی وړ وي.

ــ کله چې د بهرنې استخباراتو او افغان ځواکونو له خوا چې د ملی اردو له قومانده بهر عملیات تر سره کوې، نو مسُول هیواد باید په هغه صورت کې چې تیرې را منځ شوی وي، د خپل اشتراک په هکله ووایی.

ــ نړیوال ځواکونه باید د ملکیانو د مرګ ژوبلی په اړه چی په هوایي بمبارد، د شپې له خوا بریدونه او نورو پوځې خوزښتونو کې را منځ ته کیږې، ټولو ته معلومات ورکړي.

**زیانمنو ته د تاوان ورکول**

ــ د تاوان ورکولو جلا کورنې او بهرنې کړنلارې باید سره ښې هم غږې شي. دا کار کیدای شي چې د پالیسی د یوه چوکاټ په رامنځ ته کولو سره، د هغې په ترڅ کی به بیلابیل پروګرامونه د یوه بشپړونکې، عملیاتی او د معلوماتو د شریکولو په موخه ترې کار واخستل شي. او همدارنګه هغه به لازیاته توافق پذیری را منځ کړي، چې په پایله کې د انفرادی قضیو له پاتې کیدو څخه مخ نیوې وشي.

ــ حتی کله چې د تاوان ورکولو پروګرام د زړه سوې او مرستې له مخی وي، په داسی حال کی چې حقوقی مسُولیت یې نه وی منلی، نو د قوماندانانو تمیز او تشخیص باید د تاوان په ورکړه کې ډیر دقیق او رانغښتی وي، او عمومی لارښودونه د پیسو د ورکولو په اړوند باید په واضحه توګه سره جوړ شی.

ــ قوماندانان باید د قربانیانو او د هغوې کورنې ولټوي او پیدا یې کړي، دا به تر دې ښه وي چې انتظار ویستل شي، تر څو هغوې شکایت او یا غوښتنه وکړي. په ځانګړی توګه، هغه ستونزې چې ښځې یې د تاوان تر لاسه کولو او نورو کمکونو د لاس ته راوړلو په اړوند لري، باید د دغه شان پروګرامونو د جوړولو پر مهال هغوې ته ځانګړې پاملرنه وشي.

**افغان ملی پولیس**

ــ د پولیسو له خوا د ناقانونه وژنو ختمول مهمه او اساسی خبره ده. پر دی بنسټ، همغږې هڅی باید د پولیسو د ریفورم لپاره وشی:

(الف) د بشری حقونو روزنې پر خپل ځای مهمی دي، خو د هغو تیریو چې د پولیسو له خوا، د هغوې د اړیکو له کبله له ځانګړو قبیلو، قوماندانانو او سیاست والو سره را منځ ته کیږی، د مخنیوی جوګه نشی کیدای. د داسې ملی

پولیسو چې ټول هیواد ته خدمت وکړي، او ټولنه وساتی د را منځ ته کولو لپاره په کار ده، چې دا اړیکې باید پرې شي.

(ب) دوامداری هڅې ددې لپاره چې د پولیسو قوت د ملی او مسلکی ځواک په بڼه جوړ شي حیاتی خبره ده. (د ولسوالیو پرمختیایي پروګرام) روزه نیز کړنلارې څخه باید په کلکه سره ملاتړ وشي.

.ــ د پولیسو له خوا وژنو ته د معافیت موضوع ته باید په عاجله توګه سره پام وشي:

(الف) د هغو قتلونو ادعاګانی چې پر پولیسو کیږی، او دولت هیڅ کله څیړنې نه کوي، تر څو چې دا پیښې له یاده ویستل شي، لا نور هم د معافیت دود پیاوړې کوي. ددې په بدل کې چې یو یو شکایت چی کوم ځای نه نیسی، د پولیسو ملی څیړنیزه د عمل ځواک ته ضرورت شته.

(ب) سربیره پر دې، د افغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون څیړنیز ځواک باید لا زیات شي، او دولت دې ته باید وخت ولري چی د هغې موندنو ته ځواب ووایی.

.ــ دا بحث چی آیا پولیس د قانون د تنفیذ ځواک وي او که پوځ ته ورته دندې هم ولري، کومه ګټه نلري. په اوسنې حال کې پولیس مکلف دي چې دواړه دندې پر مخ بوزي. او دوې باید داسې جوړ او وروزل شي چې هغو خلکو ته چې دوی خدمت کوي امنیت هم راولي.

**عدلی قضایی سیستم**

.ــ د پولیسو او څارنوالی تر منځ ناکاره او ضعیفه همغږی، د ښو څیړنو خنډ ګرزي. د پولیسو او څارنوالانو تر منځ باید اړیکی ښی کړای شي. د کورنیو چارو وزارت او لوی څارنوالی باید پدې سره سلا شي، چې څرنګه ګډ ګامونه د جرمونو د کشف او څیړنې په موخه واخلی، او پولیسو او څارنوالانو لپاره ته په منظمه توګه وړ هدایات او اوامر ورکړي.

.ــ د نفوس د نیمایي برخې یعنی ښځو مشکلات په دی اړوند باید هیر نه کړل شي. جنایی قضایی سیستم باید ددوی لپاره د لاس رسې وړ وي:

(الف) د ښځو د ساتنې بنسټونه دې پیاوړې او تشویق شي.

(ب) د ښځینه قربانیانو لپاره دې یوه ځانګړې اداره په لوی څارنوالی کی جوړه شي.

.ــ هغه څه چې د (ناموسی وژنو) په نامه یادیږی، او په زیات شمیر کې منځ ته راځي، باید د قتل په توګه ور سره چلند وشي لکه څرنګه چی واضحاً هم داسی ده. دا پیښی باید د پولیسو له خوا وڅیړل شي، که چیری دوی ته د کورنی له خوا اطلاع ورکړل شوی وي او یا نه.

.ــ د هغو ټولو ستونزو په وړاندی باید اقدامات وشي کوم چې په قضایي عدلی سیستم کی د عدالت لپاره خنډ جوړوي.

(الف) یوه مستقله د فساد ضد اداره باید د دولت له لورې جوړه شي، چې نړیوال ملاتړ ورسره وي، او داسې صلاحیت، قدرت او منابع ولري چې وکړای شي مهمې قضیې د حکومت او قضا په هره کچه کې تر تعقیب لاندې ونیسي.

(ب) تر هغه ځایه چې نړیوالی مرستی او پیسی د فساد د لازیاتوالی لامل ګرزي، نو نړیواله ټولنه باید د دولت سره د هغی د فساد ضد په هڅو کې مرسته وکړي، دا کار د یو شمیر میکانیزمونو جوړولو، لکه د یوه لوړرتبه نظارتی کمیټی را منځ ته کولو سره کیداې شي.

.ــ دا ټول مني، چې قضایي عدلی سیستم اوس مهال د دې توان نلري چې د عادلانه محکمی ټول اساسات په لازمه توګه سره مراعات کړي. ددې لپاره چې د بیګناه خلکو د اعدام څخه مخ نیوې شوې وي، نو دولت ته پکار ده چې د اعدام سزاګانو ته قانونی مهلت ورکړي.

**انتقالی عدالت او د تیرو جرمونو د شواهدو ساتنه**

.ــ ټولیز قبرونه په شمول د لیلی دښتي باید د دولت له خوا او د نړیوالي ټولني په ملاتړ سره خوندي او وساتل شي. د مړو شویو کسانو د مرګ لاملونه باید وموندل شي، او همداراز د هغو ادعاوو په باب چې ویل کیږي، هڅې شوي چې شواهد له منځه یوسې باید ضرور پوره څیړنې وشي. که چیری داسې ونشي، نو دا به د هغو لپاره چی په تیر مهال کی یې تیري کړي په پرلپسې توګه معافیت وګڼل شي، او له بله پلوه د افغانانو وړتیا د تیر مهال جرمونو د تاریخی ریکارد کول تر سوال لاندې راولې، چې هغه بیا مصالحې رامنځ ته کولو په لحاظ اړین کار دی.

## ضمیمه الف: د لیدنی کړنلاره

۱. ما د دولت د بلنې پر بنسټ د افغانستان څخه د ۴-۱۵ می ۲۰۰۸ لیدنه وکړه. ما کابل، پروان، کنړ، ننګرهار، کندهار، هلمند او جوزجان ته سفرونه وکړل. زه دافغانستان دولت څخه د هغې مرستې په خاطر چې زما سره یې کړیې مننندوې یم.

۲. د افغانستان دولت له لورې، ما د بهرنیو چارو وزیر، لوی څارنوال، ددفاع وزیر، د عدلیې وزیر، د داخلی چارو لمړی مسرتیال، امنیتی مرستیال وزیر، د ملی امنیت مشاور، د تروریزم سره د مبارزې مشر، د داخلی امورو مشر، د پولیسو له مشر قوماندان او ستر محکمی مشر قاضی سره وکتل. ما د افغان ملی اردو، افغان ملی پولیس، او د ملی امنیت د ریاست د مقاماتو سره په ټول افغانستان کی وکتل. برسیره پر هغې ما د بیلابیلو ولایتی او د ولسوالیو چاراوکو لکه د کنړ والی، د جوزجان والی، د کندهار مرستیال والی، د ننګرهار مرستیال والی، د هلمند مرستیال والی او د شیرخان ولسوالي ولسوال سره وکتلړ.

۳. د نړیوالو ټولنی له جانبه ما د ډیرو آیساف او د آزادی راوستلو ځواکونو د مامورینو سره، په شمول د شرقی حوزی قوماندانی مرستیال/مختلطه مځکنی ځواک ۱۰۱ (او ای اف)، د جنوبی حوزې قوماندانی مرستیال، د هلمند د مځکنی ځواک قوماندان، لوړپوړې جنرال د مختلطی انتقالی امنیت د افغانستان لپاره (سی اس تی سی- ای)، او دآیساف مرستیال قوماندان او عملیاتی او امنیتی درستیز سره وکتل.

۴. سربیره پر دې ما د دیپلوماتیکی ټولنی له غړیو سره هم وکتل.

۵. ما د یو زیات شمیر نړیوال، ملی او مدنی ټولنو استازو سره هم وکتل. همدارنګه د افغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون له کمیشنرانو او د هغی ساحوی مامورینو سره هم ولیدل. د ژورنالیستانو، د بحران ځپلو سیمو له مشرانو، قربانیانو، شاهدانو، او د هغو کورنیو سره چې غړې یې د بشری حقونو د تیریو له کبله د بیلابیلو غاړو له خوا د لاسه ورکړي، وکتل. زما د ډلی ښځینه غړو د بیلابیلو د ښځو د ځایي مدنی ټولنو سره، او ډیرو نورو ښځینه قربانیانو او شاهدانو سره هم وکتل.

۶. ما د ملګرو ملتونو او نورو بین الدولتی بنسټونو سره، په شمول د یونیسیف، نړیوال مهاجرت اداره (آی او ام) یونیفیم او دملګرو ملتونو د مصؤنیت او امنیت څانګه (یو ان دی اس اس) له استازو سره وکتل. همدا راز ما د

سرمنشی ځانګړی استازی او د سر منشی د ځانګړی استازی د معاون سره وکتل. زه د یونما او په ځانګړی توګه د بشری حقونو له څانګې څخه ددوی د مرستی او ددوی د عالی خدماتو په اړوند مننه کوم.

## ضمیمه ب: لمن لیکونه

---

[1] نړیواله وسله واله منازعه په افغانستان کې په ۷ د اکتوبر ۲۰۰۱ (پر هغه نیټه چې د امریکی په رهبری ملک ونیول شو)، او معمولاً داسې وویل کیږي چې د انتقالی دورې راتګ سره په جون ۲۰۰۲ کال کی پای ته ورسیده. ددغه نیټی نه راپه دیخوا دې منازعی (نا نړیواله) بڼه واخېسته ځکه نړیوال ځواکونه د دولت په ملاتړ جنګیږی.

[2] د یادولو وړ ده چې یو شمیر وسله والې مخالفې ډلې شته چې میل لري ''طالبانو'' ته نسبت ورکول شي، او د دوی په نامه یاد شي. (نو دا د دې ښکارندوی ده چې ولی د ''دولت ضد عناصرو'' کلمه په زیاتیدونکې ډول سره کارول کیږي.) ددې ډلو تر منځ اړیکی همیشه څرګندې نه وي. یو شمیر ډلې ښایې په متحده توګه سره همکاری وکړي، خو ددې اتحاد او مرستې پراخوالې اکثراً ناڅرګند پاتې کیږي. دی ته ورته د یو شمیر مستقلو ډلو مشران شاید د طالبانو د مشرانو په شوراګانو کې ونډه واخلي، خو ددې تمیز کول چې ددوې د هم غړی او د طالبانو له مشر ملا عمر څخه اطاعت په کومه کچه کی دې، یو مشکل کار دې. د هغو با خبرو کسانو سره چې موږ مرکې کړی، د یادې شوې پراخوالې او د هغې اغیزې د ملکیانو د ساتنې په اړوند، سره توپیر لري. یو شمیر له دې سره مخالفت لري، چې د''طالبانو'' په اړه خبرې کړل یوه ګرامری تیروتنه وه، او داسې ډیرې بیلې د مراتبو سلسلې شته چې د هغې پر بنسټ که کوښښ وشي او پر ''طالبانو'' اغیزه راوړل شي، تر څو مسؤلیت منونکې شي. نور بیا په دې اند دي چې طالبان د خپلو مشرانو په اطاعت کولو کې ډیر مشهوردي، نو د ملکیانو سرغوڅونې ضد فرمان په شمول هغه کسانو چې دولت ته کار کوي د افغانسان ډیرو برخو کی پلې شوی دې، دا په دې معنی چې د طالبانو پر اصلی کړیو فشار اچول ښې اغیزې لرلاې شي، او د بیلابیلو ډلو پر اختلافاتو زیرکانه دقت موضوع پیچیلې کوي نسبت دی ته چې روښانه یی کړي.

[3] یو بیلګه دا ده چې، افغانان او ورسره بهرنیان د امنیتی اوضاع د څرنګوالې په هکله اکثراً هغې نقشی ته چې د ملګرو ملتونو د مصؤنیت او امنیت اداره (یو ان ډی اس اس) له خوا د یوه زون په کچه جوړیږي، د امنیت، تیریو او خشونت په هکله معلومات تر لاسه کوي. خو د (یو ان ډی اس اس) کارکوونکو ما ته وویل چې ددې نقشی موخې لږ او د پیښو د ریکارد کولو او وړاندویولو کچه یې نا کافي او ټیټه ده. نو ښایې چې ملکیانو ته د خطر ارزونه په خپلواکه توګه وشي د هغې ارزونی نه چې بهرنیانو ته کیږي. د ملکی خلکو د ساتنې هڅې باید په مشخصه او هدفمندانه توګه تحلیل شي.

[4] د تناسب د اصولو د غوښتنو سره سم، ''متوقع'' پایلی ''د ملکی وګړو د ژوند اتفاقی له لاسه ورکول، د ملکیانو زخمی کیدل، ملکی شیانو ته زیان، او دی ته ورته'' نه باید چې ''د هغې ټاکلی پوځې موخې کوم چې هدف وي په پرتله زیاتوالې'' وي (جین ماری او لویس بیک، نړیوال بشرپاله عرفی قوانین (۲۰۰۵) ( وروسته ددې نه، د آی سی آر سی د قانون)، ۱۴ قانون) په نامه. هغې اړین احتیاط ته په پام کې چې د حملی پر وخت باید وشي، عمومی قاعده داسې ده چې ''ثابته پاملرنه'' او ''[الف] II ممکنه احتیاط'' وشي ''تر څو ډډه وشې، او یا لږ کړل شي اتفاقی وژنې د ملکیانو، زخمی کیدل د زخمیانو او د هغوې شتمنیو ته ضرر رسول'' (آی سی آر سی، ۱۵ قانون). دا عمومی قواعد د یو شمیر مشخصو قانونو په ذریعه بشپړ شوي دي. په دې کې هغه قوانین هم شامل دي چې یوه غاړه د منازعی کولای شې چې ''د جنګ ډول او میتود داسې غوره کړي'' چی ملکیانو ته پکې لږ زیان ورسیږي (آی سی آر سی، ۱۷ قانون)، تر سره کړې ''هر هغه ممکنه ارزونه'' چې د تناسب مقتضیات په کې مراعات شي (آی سی آر سی، ۱۸ قانون)، او ''هغه مخکینې اطلاع ګانې د حملی په اړوند ورکول شي چې کیداې شې ملکیان متاثر کړي، مګر چی شرایط اجازه ورنکړي'' (آی سی آر سی، ۲۰ قانون). همداشان، په داسې حال کې چې عملیات روان هم وي، دا الزام شته چې ''د حملی د بندیدو یا ځنډیدو لپاره هر شونې عمل وشی، کله چې د هغې مشهودوالی وي'' کله چې ولیدل شي چې موخه پوځی نده او یا دا چې د تناسب د مقتضیاتو سره سمون نه لري (آی سی آر سی، ۱۹ قانون). ددې مسُلې یقینی کول چې آیا موخه یو مشروع پوځی موخه ده، قانون داسې وایې، چې هره ''غاړه د منازعی باید ټول هغه شونې هڅې وکړي تر څو دا ثابته کړی چې موخه پوځې ده'' (آی سی آر سی، ۱۶ قانون).

[5] نړیوال بشرپاله عرفی قوانین ''د انسانی ډال څخه استفاده'' منع کوي (آی سی آر سی، ۹۷ قانون) په دې معنی چې ''د پوځې موخو سره د ملکیانو او یا هغو کسانو چی له جګړی وتلی په قصدی توګه ځای پر ځای کول، پدې موخه چې د پوځې موخو د هدف ګرځیدو څخه یی مخ نیوی کړی وی'' (آی سی آر سی، ۹۷ قانون، مباحثه ۳۴۰ مخ). سربیره پر دې مخنیوی، هره غاړه څرګند الزامات لري. یو عمومی الزام دا دي چې''ټول هغه ممکنه احتیاط د ملکی خلکو د ساتنی او د ملکی موخو چې د هغوې تر واک لاندی دي وشی تر څو د حملی له تاثیراتو وساتل شي'' (آی سی آر سی، ۲۲ قانون). ددې قانون نه انګیرنې د نانړیوالی منازعی په حالت کی بیلابیلې وي; په هر صورت، په نړیوالو منازعو کې دا قوانین لارښودونو ته اړتیا لري. دا قوانین همدا شان وایی چې هره غاړه باید ''د امکان تر حده، د پوځې شیانو د ایښودلو څخه په میشتن ځایونو کې او یا هغې ته نیږدی ډډه وکړي'' (آی سی آر سی، ۲۳ قانون) او ''د امکان تر حده، د هغه ملکی خلکو او شیانو رایستل د نظامی ځایونو څخه چې د دوې تر ولکې لاندی وي'' (آی سی آر سی، ۲۴ قانون).

[6] د بېلګې په توګه، يوکټونکي په کندهار کې ما ته وويل، چې د کورنې ۱۷ تنه غړي يې هغه وخت له لاسه ورکړل، چې طالبانو د دوی د کور څخه پر نړيوالو ځواکونو حمله وکړه. ماښام وو، د ۱۵ تر ۲۰ نفره طالبان چې په کلاشينکوف او راکټ سره مسلح وو ددغه کټونکي کور ته ورغلل. ده وويل چې طياری په هوا کې ګرزيدلی. طالبانو د کور غړو ته وويل چې ځانونه پټ کړئ، او وروسته يې پر طيارو باندی ډزی پيل کړی. دوی د کور غړو ته اجازه نه ورکوله چې له کوره څخه بهر شی. کټونکي وړاندې زياته کړه، چې زما ښينی هغوی ته عذر وکړ چې د کور څخه پر طيارو ډزی مه کوی، ددې ويرې چې د طالبانو د منځه وړلو په خاطر پر کور باندی بمبارد ونه کړي. لږ څه وروروسته هغې خپل ماشوم واخيست او د حويلې په خوا پدې ګمان چې هلته به وساتل شي لاړه، خو هغوی ټول د بمبارد له کبله مړه شول.

[7] د شپې چاپو کې، ملی اردو اکثراً د نړيوالو ځواکونو سره مل وي، او په زياتو مواردو کې د شاوخوا ځايونو امنيت د ملی پوليسو له خوا نيول کيږي. په ځينو سيمو کې ملی امنيت مخکينی سروې تر سره کوي. همدارنګه په ځينو حالاتو کې د افغان امنيتی ځواکونو له خوا په شمول د ملی امنيت دا شان عمليات په نيغه توګه تر سره کيږي. په داسې حال کې چې ملی امنيت استخباراتی معلومات را ټولوي او هغه ارزيابی کوي، همدا شان دوی په عملياتو کی هم ونډه اخلی. د ملی امنيت چارواکو وويل چې دوی صلاحيت لري چې د نيونې عمليات تر سره کړي او دا کار هم کوي، خصوصاً د تروريزم سره د مبارزی، سازمان شويو جرمونو، او د جاسوسی ضد په برخو کې. ما د نوموړيو عملياتو په اړوند معلومات را ټول نکړل.

[8] تر ټولو زيات معمول شکايت چې ما واوريد، د شپې له خوا د تلاشيو په اړوند وو، چې زما د ماموريت د کړې څخه بهر وو. په دې کی د کورونو حريم باندی تيرې کيږي او د بهرنيانو له خوا د ښځو سره ناوړه سلوک کيږي. د هغو افغانانو سره چې ما مرکی کړې د ډيرو انديښنه د نړيوالو ځواکونو له دغه شان عملياتو څخه وه، اود هغوی لويه غوښتنه دا وه چې نړيوالو ځواکونو ته د افغانی کلتور روزنه ورکړل شي، او عمليات د افغانی ځواکونو له خوا رهبري شي.

[9] د قانون د تطبيق اړخ د حملو د موخو سره تړاو لري. که چيرې موخه مشروع پوځی هدف وي، لکه يو جګړه مار، نو بيا دا حمله د نورو حملو په شان د نړيوال بشرپاله قوانينو تابع او د هغه له مخې ارزول کيږي، په شمول د هغه قواعدو او اساساتو چې د موخی روښتيا، تناسب، احتياط کول په حمله کې، او پوځی ضرورت ته پکی پام شوې وي (۴ می لمن پاڼی ته وګوری). د بېلګې په توګه، کله چې نړيوال ځواکونه يرغل پلان کوي نو "ټول ممکنه اقدامات" بايد تر سره کړي "چې روښانه" کړي چې موخه يې پوځی ده (آی سی آر سی، ۱۶ قانون). او، نړيوال ځواکونه بايد د پوځي يرغل يا د جنګياليو د بندي کولو په موخه د وسايلو او د جګړی د روش غوره کولو لپاره "ټول هغه ممکنه احتياط" وکړي سره د دې "په پام کې ونيول شي او ډېره وشی، او په هره پيښه کی د ملکيانو اتفاقی زيان را ټيټ شی" (آی سی آر سی، ۱۷ قانون)، او بايد "هر هغه ممکنه ارزونه وشي چې آيا دا يرغل ملکی خلکو ته زيان واړوي ... چې د هغه نظامی موخی چې توقع يې کيږي په پرتله به زيادت وکړي" (آی سی آر سی، ۱۸ قانون). که چيرې د يرغل موخه مشروع پوځی هدف نه وي—د مثال په توګه، هغه ملکی هدف چې په نيغه توګه په جنګ کې نه کارول کيږی ــ دا ډول عمليات د نړيوال بشري حقونو قانون تابع دي. د قانون د تنفيذ په حالت کې، د وژونکې ځواک څخه ښايې هغه وخت کار واخيستل شي چې دا يقيني شي کوم ځوک بل ځوک وژني (وژونکی ځواک ته تناسب ورکول) او دهغې لپاره کومه بله طريقه د بندي کولو پاتی نه وي (وژونکی ځواک ته اړتيا). (وکتل شی الف/۶۱/۳۱۱، پاراګراف. ۴۵-۳۳; د ځواک استعمال او د تودې وسلې اساسات د قانون د تنفيذ ماموريت، ۹ اساسات; د قانون د تنفيذ د مامورينو کړنی، دريمه ماده.)

[10] د بېلګې په توګه، د شپې له خوا د يرغلونو شاهدانو او د مشکوکو کسانو د کورنيو غړيو داسې ويل چې مشکوک خلک کيداې شي ددوی د کار ځای او يا د کار ځای ته د تګ پر مهال ونيول شي، ځکه چې ښځو او ماشومانو ته د ملاحظی وړ خطر متوجه وي.

[11] د هغه نړيوال بشر پاله قوانينو په پام کې نيولو سره، چې د نا نړيوالې وسله والې منازعو لپاره د تطبيق وړ دي، حملې يوازی پر مشروع پوځي موخو بايد وشي (آی سی آر سی، ۷ قانون). د ځانګړو پوځی موخو، برسيره(آی سی آر سی، ۸ قانون)، مشروع پوځی موخې کيداې شي چې جګړه ماران او هغه ملکيان چې په نيغه توګه په جنګ کې برخه اخلی، په بر کې نيسي (آی سی آر سی، ۱،۶ قانون). جګړه ماران "د وسله والو منازعو وسله والو ډلو غړي" (د طبی او مذهبی پرسونل څخه پرته) دي (آی سی آر سی، ۳ قانون). هغه کسان چې د منازعې د غاړو سره تړلی او يا يې ملګرتيا کوي، که چيرې دا غاړه دولت وي او يا کومه بله وسله واله ډله ــ بايد جګړه مار ونه پيژندل شی، تر هغه چې په نيغه توګه په جګړه کې ونډه وانخلي. (يو ملکی شخص له يرغل څخه مصؤن دې، خو دا په دی معنی نده چې هغه به د ملی قوانينو د نقض کولو په دليل نشې بندی کيداې، په هر ترتيب، د قانون تنفيذولو چاری اساساً د نړيوالو بشری حقونو قانون له مخی ارزول کيږی، نسبت دې ته چې د نړيوال بشرپاله قوانينو له خوا.)

[12] د شپې له خوا د کښتونو د اوبولو زياتې قصې ما واوريدلې ــ چې دا يو معمول کار دی، او دوې پدی خاطر چې د اوبو تبخير کيدو څخه مخنيوی وشي، دا کار کوي ــ او دوی د مځکنيو او هوايې حملو ښکار ګرزي. کټونکې په دې اند دي چې دا ډول وژنی په دی سبب را منځ ته کيږي چی نړيوال ځواکونه داسې اټکل کوي هر هغه ځوک چې د شپې له خوا حرکت کوي شايد چې دښمن وي. دی ته ورته ادعاګانی ما واوريدلی هغه کسان چې د شپې له خوا سفر کوي حملی پری شوي (په يوه پيښه کی، يو ځوک چې ښځه يې رنځوره وه د درملو لپاره روغتون ته روان وو) او نور هغه کسان وو چې په ليرې ځای کې يې د ساختمانی کار په خاطر کمپ وهلی وو. مشرانو او کټونکو د نړيوالو ځواکونو څخه شکايت درلود، هغه ځوک چې د خپل ځان امنيت لپاره وسلې ليږدوي، دوی يې د دښمن په توګه پيژنی او يا هغه ځوک چې د ساختمانی کارونو او يا قيمتی ډبرو کانونه راباسی ــ په نورستان کی په پراخه توګه شتون لري ــ د سړک د غاړی دبم جوړولو د شواهدو په تور يې نيسي. يوه کټونکی وويل چې نړيوال ځواکونه بايد زموږ واقعيتونو ته پام وکړي: "موږ غريب يو، موږ رمې پيايو، موږ اړتياوې لرو او ضرورت پيښيږې چې د شپې له خوا وګرزو— خو موږ دا کارونه نه شو کولاې."

[13] د نورستان ولايت څخه يو مشر، يو ځايې ولسوال په دې تورن کړ، چې هغه د نا سمو معلوماتو په ورکولو سره خپل ځايې رقيبان د نړيوالو ځواکونو تر حملو لاندې راوستل. يو بل قومی مشر د کرنګل کلی د کنړ ولايت څخه ادعا وکړه، چې د دولت پر ضد "مقاومت" د نړيوالو ځواکونو له خوا د يو مشهور قومې مشر پر کور له يرغل نه وروسته تحريک شوو. د خسارې جبران ورنه کړل شو او دی مشر د مخالفينو سره اتحاد وکړ او پر نړيوالو ځواکونو يې د حملو کولو زمينه برابره کړه. يو بل کټونکې د ننګرهار ولايت د غنی خيلو ولسوالې څخه د ورته پيښې چې د نا سمو معلوماتو پر بنسټ شوې وه، څرګندونې وکړې. يو بل کس د کندهار ولايت د ميوند ولسوالی څخه وويل

چي د نړيوالو ځواکونو افغاني ژباړونکي د هغه ځا نه چي پيسي غوښتي، او هغه ورنکړي د طالب ټاپه يې پرې ووهله، او ګواښ يې ور ته کاوه.
د هوايي او د شپي حملو په باب معلومات وروسته راځي.
[14]يو لوړپوړي چارواکي وويل، چي ملکی تلفات اکثراً ډير ښودل کيږي. هغه زياته کړه کله نا کله ځايي اوسيدونکي هغه کسان چي په تربګنيو او خپل منځيو شخړو کي له منځه تللي وي د ملکي تلفاتو په شمير ور اضافه کوي، او يا داسي انګيرې چي دا تربګني او خپل منځي شخړي د هغه منازعی يوه برخه ده چی د دولت او طالبانو تر منځ روانه ده.
[15]دې ته ورته، د نورستان ولايت مشرانو وويل هغو سيمو چي د ولايتي بيا رغوني ټيمونو يا (پی آر ټی) له خوا پرمختيايي مرستي تر لاسه کړي ښه پاملرنه ورته شوي، او هغه سيمي چي دا ډول مرستي يې نه دي تر لاسه کړي له دې ويرې چی د مخالفينو ګمان پرې و نه شي او د يرغل د کيدو له لامله، خپلي سيمي يې خوشي کړي دي.
[16]يو کتونکي وويل، چي د دوې په سيمه کي خلک هڅي کوي چي د خپل منځي دښمنيو د غچ اخسيتلو په موخه ولسوال ته ورشي خو هغه د معلوماتو لرولو له کبله د دوې دا قصي نه مني، خو کله نا کله چي والي ته ورشي نو هغه هم په سختي تشويق کيداي شي، خو دوی بيا نړيوالو ځواکونو ته ورشي، او هغوی پرته له دې نه چي رارسيدلي معلومات ثابت کړي يرغل ته لاس اچوي.
[17]د اوسني همغږي د جوړښت په اړوند ما د يو شمير واليانو او امنيتي چارواکو سره خبري وکړي. په داسي حال کي چي ترتيبات بيلابيل دي، خو په ظاهري توګه اوونيز مجلسونه جوړيږي، چي په هغه کي واليان، د نړيوالو ځواکونو استازي، افغان ملی اردو، افغان ملي پوليس، او ملي امنيت راټوليږي. په دی اوونيزو مجلسونو کي کله کله د ټيټي کچي استازی هم ونډه اخلي. د ولايتي همغږي کميټه (پي سي سي) په ورته جوړښت سره په ساحوي کچه جوړيږي، خو د ولسواليو په کچه داسي غونډي په نادره توګه جوړيږي. ټولو ذيربطو غاړو وويل چي د دغه جوړښت اغيزمنتوب، د خپل منځي روابطو او د ګډون کوونکو په اعتماد پورې اړه پيدا کوي. د هغو ډيرو رسمي چارواکو سره چي ما خبري وکړی دا اندېښنه يې درلوده، چي نړيوال ځواکونه اوس هم ځيني عمليات پرته له مخکني مشوري څخه پلي کوي.
[18]د سره صليب نړيواله کميټه، ۱۶ قانون. د زياتو معلوماتو په خاطر ۴ مې او ۹ مې لمن پاڼي ته لاړ شي.
[19]يو ان دي اس اس په لمړيو څلورو مياشتو د ۲۰۰۸ کال کي ۳۸۱ ملکی تلفات ښوودلي ( د هغې نه ۲۱۴ د ځان مرګي حملو په پايله کي را منځ ته شوي).
[20]يو ان، يو ان دي اس اس (۸ مې ۲۰۰۸ )
[21]که چيرته داسي وګڼو، چي يو طالب پر يوه پوسته حمله وکړي او پوليس ووژني، نو دوی به نړيوال بشر پاله قانون نه وي مات کړي، او په عين حالت کي که چيرې يو طالب د پوليسو پر پوستي ځان مرګي بريد وکړي، ځان او پوليس ووژنی نو بيا يې هم نړيوال بشر پاله قانون نه دي مات کړي.
[22]د عهد ماتول او يا غداري کړل داسي يو د جعل او تزوير کار دي، چي د منازعي يوه غاړه دا مني چي دوې د دښمن په مقابل کي د ځان ساتني حالت غوره کړي. الف پې ۱; آی سي سي. او وګورې جی اشلي روش، "نيرنګ او غداري د وسله والي منازعي په بهير کي"، ۲۳ يو. تول. ال. ۳۹۵ (۱۹۹۲-۱۹۹۱).
[23]وګوري II. د. برخي ته.
[24]ملکی وګړي د طالبانو د هويت او ځايونو د څرګندولو معلومات پيدا کولاې شي، هغوی د سړک د غاړې د بمونو د ښوودلو سره د نړيوالو ځواکونو څخه انعام اخلي، د نورو مرسته کوونکو او مخبرانو هم خبر وي، او همداسي د جګړه مارانو د استخدامولو مخه نيوې کولاې شي اويا چټکتيا په کي راوستي شي، او داسي ورته کارونه.
[25]د نړيوال بشرپاله قوانينونوهغه برخي چي کورنيو وسله والو منازعو ته اړوند دي، په شمول د دريمي مشترکي مادی د ۱۹۴۹ د ژينوا د کنوانسيون، د هغه ځا وژنه "چي په جنګ کي ونده نه اخلي" په شمول د هغو جنګياليو چي "خپلي وسلي يې پر ځمکه ايښي وي" او يا هغه څوک چي د جګړې نه د ټپي کيدو له کبله او يا "کوم بل علت وې" له جګړې وتلي وي، منعه کړي دي. دريمه مشترکه ماده همدا شان"د اعدام د حکم ورکول او د هغې تر سره کول پرته له مخکني قضاوت او قانوني محکمي نه، او د ټولو هغه عدلي تضمينونو چي متمدن وګړي يې لري" منع کړي دي. د ياد شويو تضمينونو مفردات کيدای شي، چي په مدني او سياسي نړيوال کنواسيون او د بشري حقونو نړيواله اعلاميه کي پيدا شي. ورآندي بيا نړيوال بشر پاله قوانين هميشه ددې ممانعت کوي چي "هغه د ډار اچوني او خشونت اعمال چي د ملکي وګړو په بين کی د ترور سبب شي" (آی سی آر سی، ۲ قانون).
[26]د داسي يو ځا په باره کي ما ته وويل شول، چي د طالبانو له خوا وروسته ددې نه چي د "شپې پاڼې" په ذريعه چي د جومات پر ديوال ټينګه شوې وه او په هغې کي ويل شوي وو، چي نړيوالو ځواکونو ته معلومات مه ورکوي، سر يې ترې نه پرې کړی وه. که څه هم دې د خپلو کړنو له کبله تر ګمان لاندې راغلي وو، او قومي مشرانو هغه وخت د طالبانو د ايستلو پريکړه وکړه چي دوې ته د نړيوالو ځواکونو له خوا خبرتيا ورسيده. په خبرتيا کي داسي راغلي وو چي، که چيرې طالبان د دوې له ځايونو څخه حملي وکړي، نو دوی به يې تاوان ورکړي، او ملکی وګړی به مړه شي. خو مشران په دې وتوانيدل چي طالبان خپه کړي، د نړيوالو ځواکونو راضي کول او هغوی د خپلو نيتونو څخه راګرځول ددوې لپاره ممکنه خبره نه وه. په واقعيت کي ما ته وويل شول، چي نړيوالو ځواکونو پر هغه ليټونکي ډلي ډزونه وکړل کوم چي په يو ورک شوي کس پسي ګرزيدل.
يوه بله بيلګه هم ددې سپيناوې کوي، چي ملکي وګړو ته څومره ګرانه ده چي د ښکيلو ډلو ضد او نقيض غوښتنو ته مناسب ځواب ورکړي.
کتونکو ما ته وويل چي څرنګه د طالبانو شتون ددوې په کلي کي د نړيوالو ځواکونو له خوا د يرغل لامل وګرځيد. او دا د دواړو جګړه مارانو او هغوی چي ګناه يې نه درلوده د يرغل موخي شول. دوې وويل چي دغه پيښه ددې لامل شوه چي د ځايي مشرانو يوه جرګه جوړه او دا پريکړه وشوه چي د طالبانو د راتلو خنډ به ګرځي، او هغوی به رټي. همدا شان دوې پريکړه وکړه چي د هغه ځا کور به سوځي کوم چي د طالبانو څخه ملاتړ کوي او دولت ته به يې سپاري. دا جوته نه وه چي آيا د جرګې پريکړی د صداقت له مخي وې او نړيوالو ځواکونو پر دې پريکړو اعتماد درلود که نه، خو په پايله کي نړيوالو ځواکونو پر دوی يرغل وکړ او د دوو ملکي وګړو د مرګ لامل شول.

[27]د هغه بياناتو پر بنسټ چې د کتونکو له خوا بيان شوي، ما په افغانستان کې د زيات شميرشپو پاڼو او نورو تبليغاتي پاڼو په اړوند معلومات تر لاسه کړل. د طالبانو له خوا هغه خطرونه چې د دوی له خوا په نيغه توګه، د تيلفون په ذريعه، د شپو پاڼو او يا د نورو تبليغاتي پاڼو په ذريعه کيږی په دې موخه وي، چې وګړي خپل اطاعت ته مجبور او د دولت، نړيوالو ځواکونو او نورو ډلو سره د مرستې څخه يې وډاروي. هغه کسان چې ډارول کيږي او پر نښه کيږي شامل دي له، د علماو د شورا غړې ملايان چې دولت ته مشورې ورکوي، د ولايتي شورا غړي (خاصتاً ښځينه غړي)، ښوونکې، د ښوونځيو زده کوونکې (خاصتاً ښځينه زده کوونکې)، هغه مشران چې د دولت سره مرستندويه وي، هغه موټرچلوونکې چې نړيوالو ځواکونو ته شيان رسوي، د دولت کارکونکې، او هغه کسان چې نا دولتي بنسټونو سره کار کوي. په کندهار کې يوې شپې پاڼې چې مخکنيو ابلاغېو ته يې اشاره کوله دا چې خلک بايد د دولت او نورو نا دولتي بنسټونو سره کار ونکړي، او ځانګړيو کورنيو ته يې اخطار ور کاوه، چې د دوی غړي بايد کار ونکړي، او که نه مړه به شي. د ملي اردو کسان او هغه کسان چې دولت او نړيوالو ځواکونو ته د معلوماتو ورکولو ګمان پرې وشي په ورځنې توګه سره هدف ګرزي. په يوه شپه پاڼه کې د خوست په ولايت کې داسې ويل کېدل ”هر هغه څوک چې د نه تر سره شوې ځانمرګي برېد په هکله رپوټ ورکړي د مرګ سره به مخامخ شي. د دولت او نړيوالو ځواکونو سره اړيکي مه نېسي.“ په يوه بله شپه پاڼه کې د کنړ په ولايت کې داسې راغلي وو، ”د دولت سره مرسته مه کوې، جاسوسي مه کوې، د اردو او يا پوليسو ليکو سره مه يو ځاې کيږي.“ د ملي اردو اوسني او پخواني غړې تښتول شوي او يا وژل شوي. (دا په داسې حال کې ده چې د ملي اردو جنګيالي د مشروع پوځي اهدافو په قطار کې راځي، خو د منازغې هغه غاړې چې څوک اسير کړي نو د وژلو څخه يې منع کړاې شوي دي. په ځينو وختونو کې، طالبانو د خلکو تګ راتګ په ځينو سيمو کې چې د دوې تر ولکي لاندې وي او هم د دولت تر ولکي لاندې وي منع کوي. لکه د کندهار په ځينو برخو کې طالبانو خلکو ته امر کړې چې پاکستان ته دې لاړشي تر دې چې د کندهار ښار ته د خپلو اړتيا وړشيانو او دارو درمل په خاطر ځي. ځينې نورې شپې پاڼې بيا د ټولنيزو مقرراتو د وضع کولو په نيت خپريږي. (د نمونې په توګه د کنړ په ولايت کې خلکو ته وويل شول، چې خپلې ږيرې دې نه خرېي.)

[28]د طالبانو له خوا تېري په خنيځ او سويل کې سره توپير لري. په ختيځ کې شپې پاڼې د يو ټوليز سرزنش بڼه لري چې خلک بايد بهرنيانو سره مرسته ونکړي; خو که چيرې سويل ته پام وشي، هلته شپې پاڼې په روښانه توګه ځانګړې خلکو ته د ځانګړو کړنو څخه د ډډې کولو امر کوي. او په ختيځ کې هغه خلک چې د مرستندويانو ګمان پرې کيږي، کيداې شي څو ځلي اخطار ورکړل شي او حتی کيداې شي چې وروسته د نيول کيدو څخه د طالبانو له خوا بيرته خوشې شي، په داسې حال کې چې په سويل کې تر ډيره کيداې شي چې د سرغوڅونې تر بريده خبره ورسيږي. ارقام او شواهد د دې بيان کوي، چې دا وژنې په سويل او سويل ختيځ کې د ختيځ په پرتله ډيرې دي. طالبان په څو محدودو سيمو کې (عدلی) کړنې تر سره کوي، خو ډيرې (سزاګانې) په نيغه توګه د دوې د جنګيالېو له خوا تر سره کيږي. دا ټولېز— ځانګړې اخطارونه، د کړاو نه ډکې ډارونې، او سرغوڅونې په زياتېدونکې توګه په دواړو سيمو کې شتون لري ــ خو، پاتې دې نه وي، چې دا توپيرونه ددې څرګندونه کوي چې د هغو خطرونو د را تېتولو لارې چارې هم په دغو سيمو کې چې خلک ور سره مخ دي توپير لري. کتونکو د دغه توپيرونو لپاره يو شمير څرګندونې وړاندې کړې:

١. په سويل کې، د ايديولوژی له پلوه طالبان سخت دريځه دي. (او تر ډيره بريده دا خبره واقعيت هم لري، يو دليل دا دې چې په سويل کې د طالبانو هغه رهبرې چې ١٩٩٠ مى په آخرو کې يې د هيواد ډيری سېمې تر واک لاندې وې تسلط اوشتون لري، په داسې حال کې چې په ختيځ کې بيلابيلې ډلې ــ لکه د حزب اسلامې او د القاعدې سره تړلې ډلې شته. په دواړو سيمو کې عام وګړي دوی ته د طالبانو خطاب کوي.)

٢. په ختيځ کې، قومي جوړښت پياوړې دې، او دا لامل کيږي چې خلک په آسانې سره د طالبانو د ګواښونو او نفوذ مخه ونېسي.

٣. د طالبانو بيباکه سرکوبې په سويل کې دا حقيقت څرګندوي چې دوې په دغه ځاې کې د ختيځ په پرتله د خلکو پر مرسته تر ډيره حده د اراضيو او جغرافيې له پلوه تکيه کوي. په سويل کې، د طالبانو جنګيالي مجبور دي چې د خلکو په بين کې وې، او پر دوې باندې اعتماد وکړي چې د دوې د ځايونو او پيژندګلوې په اړه دولت او نړيوالو ځواکونو ته څه ونه وايي; په داسې حال کې چې په ختېځ کې دوې کړې شي چې پاکستان ته لاړ شي، او په دورانې توګه سره د سرحد نه تير شي او خپلې حملې تر سره کړي. (سويلي ولايت به شمول د هلمند او کندهار هم د پاکستان سره سرحد لري، خو د ختيځ په پرتله ګڼ ميشته ځايونه د سرحد څخه د دښتو په واسطه جلا کړاې شوي دي.) د ختيځ اراضې د سويل په پرتله ډيرې پيچيلې او غرنې دي.

په سويل کې، کتونکې همدا راز د طالبانو د تيريو په اړوند په دې باب، چې کله دوې نوې سيمې تر خپلې ولکې لاندې راولي او يا دا چې سيمې له په خوا نه تر ولکې لاندې وي، توپير لري. په تير مهال کې طالبانو هغه مشران وژل چې د دولت او يا نړيوالو ځواکونو سره يې اړيکي لرلې. په را وروستيو کې هغه څوک به قربانې کېدل چې د جاسوسې ګمان به پرې وشو. داسې حالات به د ځينو شواهدو لکه د امريکايې ډالرو په لرلو سره جوتېدل. د هغو کسانو له جملې څخه چې ما ور سره خبرې کولې يو شمير يې په دی هم ډاريدل چې د بهرنيانو سره خبرې کړل هم د جاسوسې ټاپه لګولې شي.

[29]د طالبانو د قواعدو د کتاب يوه کاپې چې د ” افغانستان د اسلامې امارت“ د يوه لوړپوړې چارواکې له خوا امضآ شوې وه په ٢٠٠٦ کال کې د دوو ژورناليستانو لاس ته ورغلې وه، کومو چې د طالبانو د يوه قوماندان سره يې مرکه درلوده. د بيلګې په توګه، د ښوونکو او نا دولتي بنسټونو کارکوونکو لپاره لاندينۍ قواعد راغلي:

٢٤) دغه لاس پوڅې دولت ته د ښوونکې په توګه کار کول منع دي، ځکه په دغه توګه کفار تقويه کيږي. ريښتنې مسلمان بايد د مذهبې ښوونکو تر نظر لاندې په جوماتونو او ورته ځايونو کې خپلې زده کړې وکړي. درسې کتابونه بايد د جهاد د وخت او يا د طالبانو د رژيم څخه وي.

٢٥) هر هغه څوک چې د ښوونکې په توګه دې لاس پوڅې دولت ته کار کوي بايد اخطار ورکړل شي. که چيرې هغوی د خپلو دندو د پريښودوو څخه ابآ وکړي نو بايد چې وټکول شي. که چيرې ښوونکې د اسلام د اساساتو پر خلاف خپل کار ته دوام ورکړي، نو دسيمې قوماندان بايد هغوې ووژنې.

٢٦) د هغو نا دولتي بنسټونو سره چې د کفري قانون په رڼا کې هيواد ته راځي، بايد داسې چلند وشي لکه چې د دولت سره کيږي. دوې د خلکو سره د مرستې تر عنوان لاندې راځي خو اصلاً دوې د دولت يوه برخه ده. نو بنآ موږ ددوې هيچ عمل نه شو زغملې،

که چیرې هغه د سړک جوړول وي، د پلونو، د کلینیکونو، د مدرسو او یا داسې نور کارونه. که چیرې زموږاخطاریه په نظر کې و نه نیسي او ښوونځي بند نه کړي، نوباید وسوځل شي. خو ټول دینی کتابونه باید مخکې له مخکې راوېستل شي.
دا د قواعدو کتاب دا هم وایي چې دا ټول "قواعد اجباري دي" او "هر هغه څوک چې خلاف ورزي وکړي نو د اسلامی امارت د قانون سره سم چلند به وشي". "د مجاهدینو لپاره نوې لایحه" (د ۲۰۰۶ د نوامبر ۲۹ مه) په http://www.signandsight.com/features/1071.html> (ژباړه شوې ۲۰۰۶ د نوامبر ۲۹ مه)).) یوه کتونکې وویل چې په سویل کې چې د ملا محمد عمر واک ډېر په نیغه توګه دئ، دا قواعد د جنګیالیو کړنې تر اغیزی راولي.
[30]په هغو قوانینو کې چې پر ملکي وګړو، چې په جګړه کې مستقېمه ونده نلري یرغل منع کړي هیڅ ډول استثنا نشته. په حقیقت کې د کورنې وسله والو منازعو په اړوند هغه نړیوال بشرپاله قوانین په ټاکېدي ډول سره "د متحاربی ډلې څخه د انتقام اخېستنه" او همدا شان "د هر ډول متقابل عمل څخه د هغه چا پر ضد چې په نیغه توګه په جګړه کی بوخت نه وي او یا وغواړي چې د جګړې نه لاس واخلي" مخ نیوې کوي، (آی سی آر سی، ۱۴۸ قانون).
[31]د بشرې حقونو قوانین دولتونو پر دې باندې ملزموي، چې د ژوندانه د حقونو نه د تیریو په صورت کې لګیدلي تورونه په "بې له ځنډ، په بشپړه او د خپلواکه او بې پری بنسټونو" له خوا وڅېړي، (دبشری حقونو کمیټه، عمومي تبصره ۳۱ شمیره، "د قانوني الزامونو طبیعت پر غړو هیوادونو د کنوانسیون" (۲۰۰۴)، (سی سی پی آر/سی/ ریو.۱/اد. ۱۳)، پره ګراف. ۱۵.) دا مسُولیت د عمومی الزاماتو پر بنسټ منځ ته راغلې تر څو د هر وګړي د ژوندانه حقوق مطمین او خوندي شي. د ژوندانه حقوق د فسخ کولو وړ نه دي، سره له هغه شرایطو چې په (آی سی سی پی آر، ماده. ۴(۲)) راغلي; پدی ترتیب، وسله والې منازعې او د اشغال حالتونه د دولتونو مسُولیت د بشری حقونو دتېریو د څېړلو او قانوني تعقیبولو په اړوند نشي را کمولاې. دا هم د منلو وړ نه ده چې د وسله والي منازعې په ترڅ کې ځینې حالتونه رامنځ ته کیداې شي چې د څېړنو مخه ډپ کولاې شي. داسې حالتونه هیڅ کله هم د څېړنو تر سره کولو الزام تر سیورې لاندې نه شي راوستې ــ دا نه شي کولاې چې د ژوندانه د حقونو نه فسخ کیدونکې بڼه تر سیورې لاندې راولي ــ خو کیداې شي د څېړنو څرنګوالي،ځانګړتیاوې تر اغیزې لاندې راولې. د یوې- یوې پېښې د څېړلو پر بنسټ کیداې شي دولتونه لړ د کار وړ اقدامات د هغه څرګندو محدودیتونو په وړاندې په کار واچوي کوم چې ور سره مخ دي. د نمونې په توګه، کله چې د دښمن ځواکونه د پیښې ځاې تر ولکې لاندې کړي نو د عدلی طب بشپړې څېړنې نا شونې وي. شرایطو ته د کتنې نه پرته، په هر حالت کې، څېړنې باید چې په ښه ډول او د امکان تر بریده تر سره شي، او هیڅ کله باید پر شکلیاتو بسنه ونکړو. (ای/سی ان.۴/۲۰۰۶/۵۳، ۳۳-۳۴. پاره ګرافونه.)
[32]د آیساف یوه قوماندان وویل چې هغه وخت کولاې شي ووایې چې کوم ځانګړی عملیات د آیساف کوم هیواد تر سره کړی، چې دوې یو ځل دا موضوع لوړپوړو قوماندانانو ته وړاندې کړي او د هغوی له خوا تصدیق شي، چې آیا دا عملیات د آیساف د کومو ځانګړو ځواکونو له خوا شوې او همدا شان باید موږ د آزادې د ټینګولو عملیاتو د قوماندانې (او اې اف) څخه وپوښتو چې کوم ځواکونه په دی عملیاتو کې ښکیل وو.
[33]ما د یوه کتونکی سره په جلال آباد کې وکتل، کوم چې د ۲۰۰۷ د مارچ د ۴ می نیټې په پیښه کې یې خپل د کورنې غړې له لاسه ورکړي وو. په دغه پیښه کې عسکرو د ځانمرګې برید په ځواب کې د سړک تر ۲۰ کیلومترې پورې پر خلکو ډزې وکړې (وګورې دویمه برخه. ب.۵). کتونکې په دې تعجب کاوه او خوښ وو چې را استونکې دولت خپل عسکر ګرم وګڼل، خو په دی ناخوښ وو چې دا معلومات نه وو چې آیا دا عسکر محکمه شول، آیا دوی محکوم یا تبریُه شول، او آیا وړاندې نورې کړنې وشوې که نه. وروسته تر دې ما د ساحوې قوماندان سره وکتل، او هغه هم معلومات نه لرل. هغه وویل چې دا پیښه زموږ د پخوانیو ټولګیو په وخت پورې اړه نیسې او دوی اړونده دوسیې له ځان سره امریکې ته وړې دي. د هغې د معلوماتو سره، دا یو ستونزه وه. یو بل ساحوې قوماندان چې ما ور سره وکتل وویل، چې دا دومره ستونزه نده چې آیا د څېړونو او قانونې تعقیبونو څرک لګول کیږې یا نه، خو د زیان جبران کول د یوې ستونزې په توګه پاتې ده. هغه دا هم وویل چې اصلې خبره دا ده چې هغه څوک چې غواړې د څېړنو د پایلو په باب پوه شې، نو د همغه هیواد ځایې ورځپاڼې دې ولولي.
په حقیقت کی، زما د سفر په وخت کې، دپیښو محکمه په امریکا کې د مارچ د ۴ می پر حادثې باندې کار کاوه. لږ څه وروسته زما د راتګ څخه د افغانستان نه د امریکې پوځیانو یو لنډه وینا د پېښې په اړوند خپره کړه، او داسې په کې راغلې وو چې یوه امریکایې قوماندان "د پیښو د محکمې رپوټ په بشپړه توګه سره" وکوت او دا یې وپتېله چې دغو عسکرو په مناسبه توګه او د جګړې د قواعدو سره سم عمل کړې، او هغه تخنیکونه او روشونه چې پرهغه مهال تر سره شوې د څوګونیو یرغلونو پر وړاندې یو ځواب وو. د تعجب وړ نه ده، داسی سرسرې او بې پایلې ځوابونه د ورته پیښو په اړوند د افغانستان د اوسنې حالت سره سمون لري. افغانان د دې حق لري چې وپوښتې چې دا پایلې پر کوم بنسټ شوې. خو هغه ټول اسناد چې د پیښو محکمې جوړ کړې په محرمه توګه ساتل کیږي. د کړونو لنډیز تر اوسه نه دې خپور شوې. د محکمې ۱۲۰۰۰ مخیز رپوټ، سپارښتونه او واقعی موندنې نه دې خپرې شوې. د امریکې دولت حتی هغو جارې قواعدو ته پاملرنه نه ده کړې، چې وایې اړوند چارواکې باید د رپوت لنډیز د څېړنو د موندنو او سپارښتونو څخه د خبرولو په موخه ټولو ته وړاندې کړې. پرته له دې نه چې د پوځې محکمې د پریکړې په اړه، چې په څرګنده ښیې چې عادلانه نه وه، هغه روشونه چې د هغې پر بنسټ د امریکا پوځې عدلي سیستم په دغه ځانګړې پیښه کې ترې نه کار واخېست، په بشپړه توګه د عامه مسُولیت پذیرې او روڼتیا د اصولو پر خلاف وو. په ډېره خواشینې سره باید ووایو چې دا یوه تیر وتنه نه وه; بلکه دا یو اصل دې.
[34]د ناټو بیانیه، د ۲۰۰۸ د مې ۱۵ مه.
[35]وګورې آی سي سې پې آر، ۲(۳) ماده; د بشرې حقونو کمیټه، عمومې تبصرې ۳۱، "د کنوانسیون پر غړو دولتونو د عمومې قانون د الزامونو طبیعت" (۲۰۰۴)، ۱۶ پره ګراف; Henckaerts & Doswald-Beck ، نړیوال بشر پاله عرفې قوانین (آی سې آرسې ۲۰۰۵)، ۱۵۰ قانون. د نړیوال بشر پاله قوانینو د مادی په حیث، "هغه دولت چې د نړیوالو بشر پاله قوانینو څخه پر سر غړوې مسُول وي نو باید د هرې مړینې او ژوبلې سبب چې ګرزیدلې وي، باید تاوان یې ورکړي" (آی سی آر سی، ۱۵۰ قانون.) په داسې حال کې چې نړیوالو بشر پالو قوانینو د الزامونو څرنګوالې تر چڼ لاندې دې، "زیاتېدونکې تمایل پر ددې دې چې د نړیوالو بشر پالو قوانینو د تیرېو قربانیانو ته داسې ځواک ورکړل شي چې د هغې پر بنسټ دوې وکولاې شی چې په نیغه توګه د مسُول دولت څخه خپل تاوان تر لاسه کړي." (آی سی آر سی، لمړې ټوک، ۵۴۱ مه پاڼه.) دا انګیرنه تر هر بل وخت نه زیات د نړیوال بشر پاله قوانینو په چوکاټ کې الزامې معلومېږې چې "دا باید یقېنې شي چې د هر هغه چا پر حقونو... چې تیرې شوې په وړ توګه سره جبران شي"(آی سي سې پې

آر،۲(۳)(الف) ماده، دبشري حقونو کميټه، عمومي تبصره شميره. ۳۱، " د کنوانسيون پر غړو دولتونو د عمومي قانون د الزامونو طبيعت" (۲۰۰۴)، (سی سی پی آر/سی/ ریو.۱/اد. ۱۳)، پره ګراف. ۱۶.) هغه تاوان چې د ټيپي کيدو لپاره ورکول کيږي بايد دواړه رواني او مالي خساره هم په کي شامل وي، بنآ تاوان "بايد د بيرته ورکوني، د خساري جبرانولو او د رضايت بڼه ولري" ( د دولت د مسُوليتونو ماده، ۳۱، ۳۴ مادي). ځکه بيرته ورکونه ــ "د هغه حالت راګرزول دي کوم چې د نا سمي کړني نه پخوا موجود وو" خو د چا د وژل کيدو په صورت کي به دا "اصلاً نا شوني" وي، خو د وړ تاوان ورکول به دواړه د خساري جبران او رضايت حاصل کړي (د مادی مصوده،۳۵. ماده). د خساري جبران "بايد مالي زيان را ونغاړي" (د مادي مصوده، ۳۶. ماده) او رضايت "کيداي شي د خطا د منلو، د تآسف بيانولو، د رسمي ښښني غوښتني او يا کوم بل مناسب روش" سره وشي ( د مادي مصوده، ۳۷. ماده). په عمل کي، په افغانستان کي هغه پيسي او مالونه چې د مرګ په صورت ورکول کيږي، دد واړو عناصرو يعني هم د خساري د جبرانولو او هم د رضايت لپاره دي، دا د يوي کورني د فعال غړي د لاسه ورکولو په بدل کي تر يوه بريده مرسته کولاي شي او د پښيماني د ښودلو لامل هم کيداي شي.

[36]يو شمير کتونکو په ډيره مايوسي سره وويل چې د مصر الازهر پوهنتون څخه مذهبي مشران په کلکه پر طالبانو غږ نه کوي، چې د هغو عملو او کړونو څخه چې د اسلامي اصولوسره په تضاد کي دي، لاس واخلي. هغوي په دي باور دي چې که د الازهر چارواکو ته د طالبانو رهبري ډيره پاملرنه و نه کړي، خو د افغانستان او پاکستان په ټولنو کي د دغه پوهنتون مشر ملا امام او نورو مذهبي شخصيتونو ته ډير درناوي شته او دا کولاي شي د طالبانو آزاد لاس تر يوه بريده را لنډ کړي.

[37]د ۲۰۰۸ کال د فبروری په مياشت کي، ملا محمد عمر داسي يو فرمان صادر کړ، چې د هغي پر بنسټ طالبان د سرغوڅونو څخه منع کړاي شوي دي، او د هغي ځيني اغيزي د دوي پر کړنو وليدل شوي.

[38]په اول کي، ما داسي سوچ وکړ چې امنيتي انديښني به وي، د وسله والو ډلو له خوا تياري تر يوه بريده دا کار ناشوني کوي. زه په دي هم پوهيدم چې بيلا بيلي غواړي به ددغه کار د سياسي دليلونو په اړوند انګېرني ولري. په پاي کي، زه په دي نتيجه ورسيدم چې ددغو انګېرونو په وړاندي بايد ودريږم او سره له دي چې ريښتني فرصتونه ما ته وړاندي شوي وو.

[39]په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کي، افغانستان دي ته نيږدي شوي وو، چې د پوليو مرض له منځه يوسي او په همدي وخت کي طالبانو اوځينو نورو داسي انګېرل چې د پوليو واکسين د عقيم کولو په موخه جوړ شوي، تر څو د مسلمانانو شميره د نړی په کچه را ټيټه کړي. د همدغه دليل پر بنسټ دوي د نرسانو او ډاکترانو په وژلو پيل وکړ، او راوړل شوي واکسينونه يي پر دوي باندي ځښل. په کال ۲۰۰۷ کي، په کويټه کي هغو کسانو چې د طالبانو د زعامت سره يي نيږدي اړيکي لرلي، د واکيسن د پروګرام موخي دوي ته تشريح کړي. د ۲۰۰۷ کال د سيپتمبر په مياشت کي، د طالبانو د مشرتابه له خوا په کويټه کي يو ليک خپور شو، چې د نړي صحي سازمان، يونيسف او دافغانستان د عامی روغتيا وزارت ته يي اجازه ورکړه چې په سلګونه زره کوچنيان واکسين کړي.

[40]څرنګه چې يوه نړيوال پوځي چارواکي چې د ملي پوليسو روزنه يي کوله په زغرده وويل، "پوليس په ډيرو حالاتو کي هيڅ هم نه دي خو دوي ملېشي دي".

[41]په يوه بيلګه به بسنه وکړو. ما هغه وروستي پيښه په کومه کي چې پر پوليسو تور وو، چې د سيالي قبيلي يو شمير خلک يي په ټوليزه توګه وژلي وخيړله. وژل شوېو کسانو به ښايي چې له طالبان سره زړه خوالي درلوده او يا نه. د بيلا بيلو اړخونو سره د خبرو او بحثونو نه وروسته داسي اټکل کيداي شي چې په روښانه توګه په موږ و نه پوهيږو چې څه پيښ شوي وو. خو اصلي خبره دا ده چې په دولت کي هيڅ داسي څوک نشته چې د دي شان پيښو د څيړنو سره علاقه ولري، عاملين ، ډير لږ تعقيبيږي. او داسي ښکاري چې نړيواله ټولنه د روان حالت د بدلولو چمتوالي نلري.

[42]د کورنيو چارو وزارت د چارواکو پر وينا، د افغانستان د ۳۶۵ ولسواليو له جملي څخه په ۱۳۱ ولسواليو کي يوازي ملي پوليس د امنيتي ځواک په توګه شتون لري.

[43]يوه لوړپوړي دولتي چارواکي ما ته وويل "ټولنيزې پرمختيايي تګلاره" چې د محلی ارګانونو د خپلواک رياست له خوا د خلکو ځاني ساتني ته د هڅولو په موخه په کار اچول شوي ده. دغه مقام زياته کړه چې د ملي پوليسو او ملي اردو دومره کافي ځواکونه نشته چې د ښوونځيو ساتل په منازعی ځپلو سيمو کي په غاړه واخلي، او دي ته ورته دندي تر سره کړي نو "ټولنيزه پرمختيايي تګلاره" له قومي مشرانو څخه غواړي چې دا دندي تر سره کړي. ده زياته کړه، د جانبي ګټي په توګه، کله چې دا اړيکي د دولت او ځايي مليشو تر منځ جوړ شي نو کيداي شي چې د طالبانو د رخني کولو په هکله، د سړک څنګ د بمونو او داسي نورو پيښو په اړوند د معلوماتو د راټوليدو زمېني پيدا شي. خو داسي تګلاري کولاي شي عامو وګړو ته ګواښ هم متوجه کړي، او په ټولنه کي د ځانګړو ډلو واکمن کيدو ته لاره اواره کړي، او د سيالو غاړو د زورولو، باج اخستېني او حتی د وژلو لامل وګرزي.

[44]ما د مدني ټولني له هغه غړو سره وکتل چې دا پيښه يي څيړلي وه، همدا راز د يو شمير مظاهري کتونکو، او هغو سره چې په پيښه کي ټپيان شوي وو هم وکتل. ما د هغو کسانو څخه چې د مظاهری له ځاي څخه تښتيدلي وو د باور وړ څرګندوني واوريدي. کله چې د افغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون يو بشپړ او محکوونکي رپوټ جوړ کړ، نو دولت پر هغي سترګي پټي کړي، او جلا څيړني يي پيل کړی. دا څيړني د نورو کوښښونو په شان پرته له کومي پايلي په خپله لاره لاړي.

[45]د هغو ارقامو له مخي چې د کورنيو چارو وزارت له خوا برابر شوي، د کورنيو چارو وزارت د کورنيو چارو عمومي رياست ته په ۱۳۸۶ کال (۲۱ مارچ ۲۰۰۷ تر ۲۱ د مارچ ۲۰۰۸ پوري) ۴۳۶ قضيي رسيدلي دي، چې ۳۵۱ افسران او ۱۲ تنه جنرالان څارنوالي ته ور پيژندل شوي دي. د لوي څارنوال پر وينا تير کال (يو کال وړاندي زما تر کتني)، ۱۷ تنه د پوليسو افسران څارنوالي بند ته اچولي، چې ټول يي په يوه قضيه کي ښکيل وو. د استيناف محکمي د پريکړي سره سم دوي د ۲۰ مياشتو بند تيرولو څخه وروسته خوشي شول. دا په داسي حال کي ده چې د کورنيو چارو وزارت د طالبانو او نړيوالو ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په هکله ارقام برابر کړي، خو د ملي پوليسو په اړوند يوازي وويل شول چې "د ملي پوليسو له خوا د پخپل سر وژنو په اړوند د هيڅ سرچېني څخه کوم رپوټ نشته." ملي امنيت هم د ملي پوليسو د تيريو څارنه کوي. په هر ترتيب، د ملي امنيت يو چارواکي وويل، د رپوټ شوېو تيريو په هکله کوم اقدام نه کيږي، که چيري د کورنيو چارو وزارت او يا هم نورو دولتي لوړپوړيو چارواکو ته رپوټ ورکړو.

[46]د کورنیو چارو وزارت د هغو جرمونو په اړوند چې د ملي پولیسو له خوا کشف او څارنوالۍ ته وړاندې شوي وو، او عدلي پرېکړې پرې صادرې شوې وې، ارقام وړاندې کړل. د ټولو جرمونو لپاره، د کورنیو چارو وزارت وویل چې ۱۰۰ په سلو کې کشف شوې قضیې څارنوالۍ ته لیږل شوې دي.

| جرمونه | کال ۱۳۸۴ (۲۱ د مارچ ۲۰۰۵د – ۲۱ د مارچ ۲۰۰۶) | | کال ۱۳۸۵ (۲۱ د مارچ ۲۰۰۶د – ۲۱ د مارچ ۲۰۰۷) | | کال ۱۳۸۶ (۲۱ د مارچ ۲۰۰۷د – ۲۱ د مارچ ۲۰۰۸) | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ملي پولیسو له خوا کشف شوي | قضایي حکم | د ملي پولیسو له خوا کشف شوي | قضایي حکم | د ملي پولیسو له خوا کشف شوي | قضایي حکم |
| وژني | ۱۵۴۷ | ۲۵ | ۱۴۳۱ | ۴۵ | ۱۳۵۹ | ۱۱ |
| موندل شوي جسدونه | ۳۸ | ۰ | ۵۱ | ۰ | ۵۸ | ۰ |
| کیسه بري | ۲۵۷ | ۹ | ۲۵۵ | ۲۳ | ۲۶۰ | ۴ |
| غلا کاني | ۲۱۶۱ | ۶۱ | ۲۱۴۴ | ۱۲۱ | ۲۲۸۳ | ۴۱ |
| وسله والي غلا کاني | ۱۹۶ | ۵ | ۲۰۱ | ۰ | ۶۴ | ۱ |
| تښتوني | ۲۶۰ | ۷ | ۲۵۲ | ۱۰ | ۲۱۸ | ۳ |
| ټپي کول | ۲۱۷۱ | ۱۵۷ | ۲۲۰۱ | ۱۲۹ | ۴۱۱۵ | ۵۶ |
| اور لګېدني | ۹۷ | ۳ | ۱۰۷ | ۳۱ | ۱۰۱ | ۹ |
| د مخدراتو قاچاق | ۲۶۵ | ۰ | ۲۳۵ | ۰ | ۱۶۳ | ۰ |
| د شیانو قاچاق | ۵۹ | ۰ | ۱۳۳ | ۰ | ۳۳۶ | ۰ |
| په زور سره اخستني | ۱۳۸ | ۰ | ۱۰۱ | ۰ | ۶۵ | ۰ |
| اختلاس | ۷۴ | ۰ | ۱۰۳ | ۰ | ۴۷ | ۰ |
| بدي ورکونه | ۳۶ | ۰ | ۳۴ | ۰ | ۴۴ | ۰ |

د قضایي حکمونو ارقام د کورنیو چارو وزارت له خوا ورکړل شوي تر هغې چې د عدلي مقاماتو څخه وي، او واقعي ارقام یو څه لوړ دي. د کورنیو چارو وزارت پر وینا، "د یادولو وړ ده چې ددغه وزارت هڅې د دریو واړو محکمو جنایي قضیو د پرېکړو په لاس ته راوړنه کې د منلو وړ پایلې ته ونه رسېدې، د عدلي ارګانونو او پولیسو تر منځ سړې اړیکې او د همغږۍ نشتوالي په ډېرو ولایتونو کې کېداي شي... په دې اړوند همیشه د کتنې وړ تیروتنې وشي."
[47]د نظام رسمي جوړښت د ۲۰۰۴ کال د جزایي کړنو موقت قانون باندې ولاړ دی، او ورسره نور قوانین او اساسي قانون. به هر ترتیب، دا په پراخه توګه منل شوې چې ددغو قوانینو د مقرراتو او لاربښودونو سره د انطباق کچه ډېره ټیټه ده. باید زیاته شي، چې ډېرې قضیې د عرفي حقوقي جوړښت پر بنسټ حل کیږي.
[48]د جزایي کړنو موقت قانون، ۲۱،۲۳. مادې.
[49]د جزایي کړنو موقت قانون، ۳۹. ماده.
[50]د جزایي کړنو موقت قانون، ۲۵، ۶۳. مادې.
[51]د جزایي کړنو موقت قانون، ۷۱. ماده
[52]د جزایي کړنو موقت قانون، ۸۱،۸۳. مادې
[53]د کورنۍ د یوه غړي وژنه د نا شایسته کړونو د ګمان پر بنسټ، چې یوازې د مخالف جنس سره د جنسي اړیکو څخه نیولې بیا د کور نه د تېښتې پورې.
[54]د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون ۴۷۶(۱) ماده داسې حکم کوي، د هغه ځانګړي جرم په وړاندې چې د کورنۍ د غړي له خوا تر سره شوی وي، قانوني اقدام هغه وخت شوني دي چې د متضرر له خوا شکایت وشي. هغه د پوښتنو ډکه انګیرنه چې د دغه مادو څخه کیږي، په

هغو قضيو کې چې متضرر (مړ وي) او هغه نشي کولاې چې د قاتل پر ضد شکايت درج کړي او قاتل په دې پلمه د قانونی تعقيب څخه انکار وکړي.

[55] په ډيرو حالاتو کې د وګړو جلا وژنو ته د يو ساده جرم بڼه ورکول کيږي، او د دولتي مسُوليت تر کچې نه رسيږي. خو کله چې دا روش معلوم شي چې د دولت ځواب او اقدامات په واضحه توګه سره نيمګړې او نا کافې دي، نو بيا د دولت مسُوليت دې چې نړيوال بشرې حقونو قانون عملي کړي. ( وګورې اې/سې ان.۴/۲۰۰۵/۷، پره ګرافونه. ۷۵-۷۱) دا په دې دليل ده چې د بشري حقونو قوانين دولتونه په دې مجبوروي چې څيړنې وکړي، قانونې تعقيب وکړي، او هغه مجرمينو ته چې د خلکو پر حقوقو تيرې کوي بايد سزا ورکول شې. (آې سې سې پې آر، ماده. ۲(۱).) کله چې د دغه کار په وړاندې د جاري قوانينو او يا کوم بل لامل له خوا خنډ وي، نو دولتونه مکلف دي چې هغه بدل کړي. (آې سې سې پې آر، ماده. ۲(۲).) څرنګه چې ځانګړې رپورټر ته په وار وار دا جوته شوې، هغه دولتونه چې د (ناموسې وژنو) عاملينو ته سزا نه شې ور کولاې په دې ترتيب دوې نړيوال بشرې حقونو قوانين تر پښو لاندې کوي. (وګورې اې/سې ان.۴/۲۰۰۰/۳، پره ګرافونه. ۸۴-۷۸; همدا راز وکتل شي د ښځو پر وړاندی د تيريو رپوټ د ځانګړې رپوټ ورکوونکې له خوا، د هغې د سفر د لاملونه او پايلې افغانستان ته ۲۰۰۵، اې/سې ان.۴/۲۰۰۶/۶۱/اد.۵.)

[56] د نمونې په توګه وګورې.، طبيبان د بشرې حقونو لپاره، "طبيبان د بشرې حقونو لپاره، له چارواکو څخه غوښتنه کوي، چې د ډله يزو قبرونو په وړاندې خپل مسُوليتونه تر سره کړي" (د ۲۰۰۸ کال دسمبر).